March 4, 1958

کابل

۱۳۳۶ کال دحوت (۱۵)
د۱۳۷۷ کال دبرات (۱۴)
د۱۹۵۸ع کال دمارچ (۴)

په دی گڼه کښی

گرانو ❁ دخوشحال
خان شعراو... ❁ دخوشال
خټك باباپه یاد ❁ دمغلو
په مقابل کښې د... ❁ داسې
به کیږې ☆ دخوشحال
خان فلسفی اشعار ☆
خوشال باباته ☆ خوشحال
خان ☆ خوشحال خان
خټك ☆ کتاب: دبنگ
مسافری

ولولئ

دافغان په ننگ می وتړ له توره * ننگیالی دزمانې خوشحال خټك یم

د خوشال وصیت

خوشال خان پرز کندن وې ننګیا لیوا!
سر و مال د پښتانه تر ننګه جار

بو ارمان را سره وړم تر تورو خا و ر و
چه می نه لید د پښتون د بن بهار

که «خوشال» به حسرت داغ زړه لحنی درومی
خدا به ته لره سمسور دقام گلزار

دغه ناز به د خوشال بوسی نیاز منو!
به مرگ مه شه پښتا نه غلیم ته خوار

که په ژوند کی می ترسره نه شو مهو ده
پس له مرگه می هوري جوړ کیء (۱) مزار

چه به عمر بري لو بدای نشی مېرونو
د مغل د آس د سوو گر زو غبار

---

(۱) کیء = کرنی

(۲۷ کال)

(۲۳) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنې مشر، گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر ! م، د، «ژواك»

پته: کابل نادر پښتون واټ دیل خشتی دیله مقابل د تیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

د ۱۳۳۶ کال د حوت ۲۹

به دې روځ دپښتون تبر نومیالی شاعر دتوری اوقلم خاوند خوشال بابا له همدې جهان نه دخپلو نیمګړو ارمانونو سره ستر ګی پټی کړی دی او تللی دی.

دی ولاړ مګر دارمانونو سره خوداچه کوم ارمانونه؟

د لته دده یوارمان دابیت ښه ښکاره کوی چه وائی:

که توفیق د اتفاق پښتانه مومی * زورخوشال به دوباره له سره ځوان شی

دخوشال بابا سره دا ارمان نه وچه بر خپل قوم اقائی وکړی ځکه دی قوم د ځان مشر باله اودمشرتوب حق ئی یوازی دده دشان سره ور باله (دابیله خبره ده چه ځینی نااهله دبل دباداری دپاره د خو پیسو مز دوران شوی وو.)

د خوشال سره دعیش اونوش دحصول کوم ارمان نه ؤموجود ځکه عیش اونوش دپخیله دخپل قوم دپاره پرې ایښی ؤ،

دخوشال بابا سره دلذتونو د کولو کوم ارمان نه وځکه چه ده لذت کول دقومی تعمیر په لحاظ پری ایښی و یاداچه خوشال ولاړ بې ارمانه اودهر ډول ارمان سره بی ارمانه ځکه چه ده خپله هستی دقوم دهستی دپاره قربان کړی وه څرنګه چه خپله هستی دقوم دپاره په نیست بدله شی په داسی حال کښې به ارمان څرنګه پاتی شی.

او دارمان سره ځکه ولاړ چه لکه څرنګه ده دپښتون داتفاق توفیق غوښت هغه دده وایه.

د حوت ۲۹ روځ دهمدغه نومیالی دمرګ روځ وه اوتولو پښتنو دخپل بابا دهمدې نیمګړو ارمانونو دسرته نه رسیدلو ویر کاوه (لری او بری) پښتونخوا پښتو تولنی هم په خپل وارد افغانستان دپښتنو په نمایندګی دخپلو ځینو پښتنو ورونو په ګډون دا ویر وژړاوه. نو ځکه دمایښین پرځلور بجی دپوهنی دوزارت په کلب کښی دپوهنی دښاغلی وزیر په مشری سره راغونډ شول اوخو پښتنو دده دژوند په شاوخوا کښې ویناوی وکړلې.

وروسته همدغه تولنه ولاړه او ه کابل رادیو دمکرافون خولی ته کښېنسله.

هلته ئی دی وښود به خوله. زه دعا کوم چه دانو میالی، لره اوبره پښتون خوا په عمل هم وښئی یعنی عملا ئی پیرو شی ، (آمین) « ژواك »

گرانو ښاغلو!

نن دپښتو دډېرلوی اوسترشاعر یعنی دخوشحال خان خټك د تلین و رځ ده او دامجلس دده په یاد وجوړ شویدی .

دغه راز لوی او نادرشخصیتونه چه اولسونه پری افتخار کولی شی هرچیرته ډېرعزیزوی اوزمانه ددغسی اشخاصوپه پیدا کولو کښی له ډېربخل نه کار اخلی .

بی حسابه څاڅکی توی په بحرو برشی — له لګو نو کرو ړو نو یو ګو هر شی
رنګ په رنګ ګلان پیداشی غرورغو کښی — پکښی یو نیم دلیلی پیکې ته ور شی
په عمر واورونه بل په یوه ځای وی — څو پیدا په سرولمبو کښی سمندر شی
عالمو نه پیدا کېږی بی حسابه — په دنیا کښې دڅو تنو تاج په سر شی
میندی راوړی ډېر زامن ډېراولادونه — یو یادوه ئی افلاطون او سکندر شی
د خلقت له کارخانی نه کله کله — په جهان پیدا یو بل شانې بشر شی
پښتنه مورهسی ځوی واخلی په غیږ کښې — چه د دهر او جهان نامی پسر شې
هسې نوم هسی نشان ئی شی په برخه — چه لوی فخر د ملت او خپل تبر شی

خوشحال خټك دزمانی له همدغسی نادرو شخصیتونو څخه ؤ چه ترا و سه بل دده غوندی نه دی پیدا شوی .

دانه وایم چه په پښتنو کښې بل ستر اولوی شاعر پیدا نشو ځکه چه مونږ عبدالرحمن بابا غوندی یو بزرګوار شخصیت هم لروچه هیڅوك ئی په بزرګۍ کښی شك نلری .

مګر لویان او بزرګان ټول یوراز نه دی او لویښت یواری دشعر اوادب په نړۍ کښی ډېر قسمونه لري .

دخوشحال خان شاعری پخپل نوعیت کښی یوه خاصه اوممتازه شاعری ده چه پوره معرفی ئې په دغسی لږوخت کښی نشی کېدی اوپه مختصرډول همدغومره وایم چه دده شاعری په ټوله معنی افغانی اوپښتنی شاعری ده چه دپښتو ادب ټول لفظی او معنوی ممیزات پکښی شته اودفکر. ذوق احساس اوتخیل په لحاظ دپښتنی روح اوافغانی ذهن اونظر ډېر ښه تمثیل کوی .

دده په اشعارو کښی ډېر رقیق اوزړه ماتوونکی احساسات نشته دی پخپلو ویونکو

اولوستونکو کښې لوړ همتي، زړور توب، ملي غرور، وطن دوستي او ننګ وغيرت پيدا کوي اودافغاني روح په روزلو کښې ډېره لويه برخه لري .

خوشحال خټک دتورويه ميدان کښې هم ډېر زړور اوسر تير تور يالي قهرمان ؤ چه عملاً ئې په ملي مجادلو کښې ډېره لويه برخه اخستې ده . او په همدغه وجه ورته ډېر کسان دتوري اوقلم خاوندوائي يعني توره په قلم دمخه کوي مګر زه دده نبوغ له توري نه په قلم کښې زيات وينم او دشعر مصرع ئې رانه ډېره تيره معلوميږي .

زه دا منم چه خوشحال خان دملي مرام دپاره ډېر زورور جنګو نه کړي او په دغو جګړو کښې دده روحي اواخلاقي شجاعت اوشهامت ، دده صبر اواستقامت ، لويه حوصله اوتينګ عزم ډېر فوق العاده معلوميږي مګردتوري پهلوانان پښتنو کښې نورهم شته چه پښتون اوس پرې سر لوړي کولي شي، خو هغه روحي اومعنوي خدمت چه خوشحال خان دملي احساس اوافغاني ذهنيت په جوړلواوروزلو کښې دخپلو اشعارو په وسيله کړيدي يوداسې کار دي چه بل پښتون په دغه ډول اودغه اندازه نه دي کړي .

خوشحال خان په ۱۶۸۹ ع کښې دفروري په شلمه مړشو مګر ده افکار احساسات پخپل قوت باقي دي اوورځ په ورځ نورهم قوت مومي .

که تاسو په ډېرمختصر ډول دخوشحال خان-پيژند ګلوي دده پخپلو اشعارو کښې غواړي ، دي خپل ځان اوخپله شاعري په يوه قصيده کښې چه ۱۳۸ بيته ده اودلته نرينه يو څو بيته را اخلو داسې معرفي کوي :

چه د شعر شاعر يه مذکور و شو
څه خو غوږ باسه زما په حسب حال

قصيدې لرم غرا له هره بابه
په حکمت په نصيحت کښې مالا مال

په تعريف د دلبرا نو غزلو نه
په صفت د ستر ګو وروځو خط و خال

طبيعت مي عطا ئې نه د تحصيل دي
که خبريم د املاء په استعمال

يوساعت به مي په درس شل مي په ښکارو
کله ښکار پر ښوم په کسب د کمال

د جهان تحصيل به کل واړه زما و
که اخته نه وای د ښکار په اشتغال

غاښ و تلي زيره سپينه لاتر اوسه
بازپه لاس ګرزم په غرو نو په جبال

بند و بست د پښتو شعر ما پيدا کړ
ګنه شعر د پښتو و غير سيال

نه ئې وزن نه تقطيع نه ئې عروض و
دوه مصرع ئې دخفيف بحر دوه طال

مګر زه ئې چه ګويا په شاعري کړم
پښتانه ئې پوهول ايزد تعال

گلستان زما د نظم شگفته شو — پری وهی شید ا بلبله پر و بال
هرمضمون ته چه د زړه توجه وکړم — طبیعت ئی را کوی په استعجال
د دیوان می که بیت بیت سره حساب کړې — ترڅلو پښت زره به تیرشی په سبز کال
په غزل په رباعی می زړه مین دی — چه مداح یم د دلبر و د جمال
په محشر به مینه وړمه د سنگدلو — که په دا در نیږی تله د اعمال
زه مداح د هیچا نه یم بی د ښکلو — د بل چا په صفت نلرم یو قال
که له هجوی له غندنی در ته وایم — فردوسی مې په دی کار کښی نه دی سیال
لری هغه یو څو بیته له محمود ه — زه لرم داو رنگ زیب د ذم جوال
دهغه شاعر په ژبه دانی وشه — چه دشعر دردانی پلوری په مال
په آبا او په اجداد خان او سرداریم — کارنامی لرم دجنگ او د جدال
پلار نیکه می شهیدان وگور ته تللی — پښب په پښت می داهنر دی آل په آل
که به ډیر په هزیمت راڅخه توی شول — وړاندی وروسته په یمین او په شمال
لکه وم پخپل همت بیا به هغه وم — په بل جنگ کښی و نصرت ته په امال
که دجنگ دپرهارو نو در ته وایم — چه له در ده می په تن ؤ لکه نال
یو پرهار به می لاروغ په وجود نه و — بل پرهار به می په تن شو یا په ډال
دا همه زما د توری صدقه ده — پښتانه چه پر گنې خوری سیو رغال
تر او یا کلو نو تیرشه زما عمر — زړه هغه دی تن پیری کړ پایمال

خدایه هومره مهلت ور کړې په دنیا کښی
چا کاږه کارونه سم کاندی خوشحال

ددی دپاره چه دنورو ملگر ووخت و نه نیسم په همد غومره وینا اکتفاء کوم او نوری خبری نورو ته پریږدم .

ښاغلی واسعي

د خوشحال خان شعر

او شاعری

زما موقف، دا ګړی یو اسان موقف ندی او او سنی لحظې ماته ډیری ګرانې او سختې په نظر راځی، دا ځکه چه زه غواړم دیوه پښتانه مشهور شخصیت او دپښتنې ادب دنړی پر یوه منلی او برجسته فرد یعنی فقید خوشحال خان پر شعر او شاعرې یا دده پرعمومی حقیقت او شخصیت ـ وږغیږم او یوڅه پکښې و وایم. یوه بله خبره هم دلته شته چه زما موقف راسختوی هغه دا چه زه حیرانیم دې موضوع ته له کمی لاری ورشم او د کمی خو او رولو یږم او د کمی ډډې پر دی موضوع ورو پرانیستم.

یو پراخ اوارت ورچه هرچا ته ورمعلوم دی او ډیر فاضل لیکوال داسې موضوعاتو له همدغه وره څخه ور داخل شوی د شعر او شاعری پرعنوان ئې خبری او څیړنی کړی دی دادی چه د شاعر په اشعار و کښې ګرو پونه او انواع سره جوړ کړی علمی، فلسی، اجتماعي او نور اقسام پکښې راوایستل شی هره تو ته شعر یوه خاصه نوعه وبلل شی او ځانته ځانته نومونه پر کښیږدی نو دا هغه نامه په اساس نقد او تبصره پر شروع کړی او وې ستائي.

پر شعر او شاعری د نقد او تبصرې دا طریقه اوس اوس یوه رواجی او مروجه بلکه عصری طریقه او دنن روځ موډ هم دغه طریقه ده، دا چه دا طریقه ولی عصری شوی او دمو درن والی عامل ئی څه شي دی هم د بحث ـ او څیړنې وړ ده چه زه غواړم لږ څه ئی وڅیړم او یوڅه پر وږغیږم. ددې طریقې عصریت او مودرن والی به ښائی ډیر علل او عوامل لری خو یوازی یو مګر تر ټولو مهم عامل ئی زما په خیال دادی چه دا طریقه اسانه او تقریباً تر لاس لاندې طریقه ده د هر لیکونکی وس په رسیږی او د هر چا د لاسه پوره ده چه تر همدغه فارمول لاندی د کم شاعر پر شعر او شاعری څه نه څه وږغیدای شی.

خو زه پخپله او سنی وینا کی ددې فارمول په اساس نه ږغیږم او د خوشحال خان پر شعر او شاعری دوینا پر موقع چه دا اوس اوس ئې کوم لدغه مروج او معمول فارمول څخه کار نه اخلم په بل عبارت پدغه دائره کی نه دریږم او دا چو کاټ ماته وم او مراعات ئې نه کوم یعنې زه د خان اشعارو ته دده د شعر او شاعری په تبصره کښی مراجعه نکوم یا ئې دومره لږ کوم چه هغه ته به شاید مراجعه نه ویل کیږی.

زه د خان اشعار نه تصنیف کوم او نه ګټه ګوری پکښی جوړوم او نه دا غواړم چه فقید خان دده د کلیات او دیوان تر ملاحظه او کتنه وروسته دده د اشعارو او منظوماتو له مخی یوه پلا ریالسټ او فلسفی، بیا عارف او صوفی بیا فنا فی الله او وجودی او بیا مورالسټ او اخلاقی او بیا سوسیالست او اجتماعی او بیا څه او څه معرفی کړم.

زه د خان حقیقت او شخصیت ته دده د قصایدو او غزلیاتو عینکی پر ستر ګونه ایږدم او په همدغو سیښو کی ده ته نه ګورم، دا ځکه چه د خان ژوند او دده افکار او دده ایدال او هدف

دده مرامونه او اغراض دده آمال
او مقاصد دومره واضح او روښانه
او دومره مشعشع او ځلاند دی
چه پلوشې ئی د پښتو نخواهر پلوته
خپری شوی او د اشعارو او د ادب
وړی او ناز کی سیښې دهغو تاب
نلری خیره کوی ئی بلکه ماته وی
ئې څوك چه دده شخصیت ته دده
د اشعارو تر چشمکو گوری، هغه
سړی خان نسی پېژندلای او دده
عمیق او ژور شخصیت نسی لیدلای
مونږ دامنو او اعتراف کوو چه
خان دیوه مکمل او مهم کلیات
څښتن او دیوه جامع او خوندور
ادب او شعرو شاعری نخښه
یا متعدد دی نخښی تر شاپرې ایښی
دی او د پښتو د ادب نړی ته ئی
دونه آب و تاب او آبرو ور بخښلی
دی چه زه او ټول پښتانه د اویلای
شو چه د پښتو ادب یی ژوندی
کړی بلکه د نړی تر وروستنی
روځی پوری ئی له مرگه څخه
ساتلی. او د محویته څخه ئې
ژغورلی دی. مگر بیا هم مونږ خان
بوازی دده د شعر او شاعری له
مخې نه پېژنو او دی یوازی
یو شاعر او ادیب نه بولو او نه دده
معروف ادب او شعر گڼو د خان

د پېژندنی او دده د شخصیت
څرگندونی ته یو داسی معرف لازم
دی لکه قدنمایه هنداره چه دده
ټول حقیقت او شخصیت پکښی
ښکاره شی او کلیات او جزئیات
ئی واړه پرملا څرگند کړی.
خان ته یو اځی شاعر ویل
او دی د شعر او ادب له لاری
پېژندل زما په عقیده منصفانه
قضاوت ندی ځکه چه دده
د عمومی ژوند تابلو که مونږ
دده د اعمالو له رویه پوره ترسیم
او په دقیق نظر ئی ملاحظه کړو
خان به دیوه فوق العاده انسان
او یوه نابغه فرد په بڼه او تشکل
ووینو، او دده د ژوند د سوانحو
او اعمالو له مطالعی څخه به
مونږ ته دا ثابته شی چه دی د زلمیتوب
څخه رانیولی بیا د زړتیا او سپین
زیرتوب تر دوری پوری بیا
د مرگ تر گړیه یو ایدآلی انسان
او په هره خوا کښی د معقولو
او سپېڅلو او فاضلو مرامونو
څښتن ؤ چه دهغو د پوره کولو
په لار کښی ئی له هیڅ ډول
جدو جهد څخه مخ نه اړاوه
ټوله اعمال او مجاهدات ئی
د همدغو مرامونو په شاوخوا کښی

دوران درلود او په عین حال
کښی ئی مرامونه هم ډیر عالی
او زښت ننگیالی او د غیرت او
شهامت د روحه څخه ډك
او سرشار وه.
د خان لمړی مرام د اؤچه
خپل اولادونه او د هر پښتانه
اولاد دهغه وحت عصری روزنه
او داسی تربیه و مومی چه بنسټ
ئی پر فاضلو ملکاتو او حسن
اخلاقو او پښتنی مزایاؤ او ممیزاتو
تمرکز موندلی وی.
او د پښتنو د پاره ئی د دوی
اتحاد اتفاق، سره غونډوالی
او یولاس کېدل تر هر څه خوښ
وه، پښتنو ته ئی د دوی د سعادت
او کامیابی په لار کښی د مجاهدی
او جدوجهد په لړ کښی دا درسته
یوه کامیابه او قاطعه او ډیره
مؤثره وسله بلله.
ده غوښته چه د خپل ماحول
څخه یو وېښ او بیدار محیط
جوړ او پښتنو ته یو فکری تحول
او انقلاب ور حاصل کړی.
او دهغه عصر سیاسی ایجاباتو
ته ئې فهم او فکر ور واړوی
د استقلال او خپلواکی په مفهوم
یی پوه کړی د ژوند په اسرارو

او دډوی په ملی موقف او موجوده
او آینده موجودیت په رمزئی
آشنا کړی .
دخان زیاتره مجاهدات په هم دغه
ساخه او همدغه دائره کښی دی
او که څه هم دی په عملی او نظری
برخه کی خپل مجاهدات مثمر
او موفق نه بولی د هغه عصر
د پښتنو مشرانو څخه دیوه
مشرورور او دزلمیانو او کشرانو
څخه د یوه سپین ږیری او
پلار په حیث سر تکوی او خوله
ځنی وهی او خوښی نه ځنی
کوی مگر بیا هم که خان اوس
له قبره څخه سر را پورته
کولای شو ای او دستر گو
دغړو لو او فقط د یو څو
دقیقو د پاره ئی دننداری اجازه
درلوده ای زما په خیال په
ډیره خوشحالی سره به ئی
بیر ته سرا یښی وای او تر دې

و روسته دقیامت تر روځی
پوری د مرگ خوب به ئی
ډیر خوږ او دبی غمی او اطمینان
خوب وای ځکه چه او سنی
هنگامه . او ولوله چه دخان
د کور او دده د قبر پر شاوخوا
جوړه ده او دلری پښتو نخوا
او ږه و ژوره او سمه و غر
چه د نهضت او سیاسی او اجتماعی
انکشاف امر پر را ختلی دی
د لوی او فقید خان آرزو
گنی او د ده هغه هیلی ژوندی
کوی چه ده گورته ورسره وړی
دی او بخپل قبر کښی ئی دځانه
سره از دی ساتلی دې په آخر
کښی زه یوه پوښتنه کوم
چه آیا سره لدې تولو بیا هم
موږ خان باید د ادب او
شعر په هینداره کښی و گورو
او یوازی ادیب او شاعر ورته
ووایو په هیڅ کله او کورټ ئی

نه بولو او نه یی بللای شو.
خان هرڅه درلوده ، خان
نابیغه ، خان عبقری ، خان دتبر او
قوم پوه مربی ، خان دپښتنی
اجتماع په امراضو پوه معالج او
بالاخره خان دخپل عصر یو سترلار
ښوونی اولیډر ، خان دهمزولو
او خپل وسیالانو ، پښتنو مشرانو
مشاور او دسرسړی او دزلمیانو
دنړی خوا خوږی مشر او پلاندؤ
مگر سر بیره پر دې تولو ئی دتعبیر
او افادی ژبه دهغه عصر او زمان
په تقاضا شعر او وینائی ادبی وه
که مونږ دخان په حد او رسم
کی یوازی شعر او شاعری راوړو
او دده توله حقیقت او تمام ماهیت
همدغه وبولو داسی به وی لکه
مولانا جلال الدین بلخی چه شاعرو
بولو حال دا چه بلخی دالاهیاتو
او لاهوت بلند پرواز عقاب دی
په پای کښی دخان روح ته
دبخښنی دعا ورلیږو .

لیکو نکی ښاغلی م ا سلیمی

د خوشحال خټك بابا

په باد

څو دې توان توفیق رسېږی بهرمه شه * په هیڅ شان د پښتانه له ننګ او نام دهرسړی په تېره بیا دیولوی شخصیت په باب کښی چه څوك څه لیکل غواړی، زما په خیال دټولو نه اول دا ضروری وی چه دهغه سړی محیط او ماحول، د هغه دژوندانه دوخت او زمانې جریاناب او ایجابات، دهغه دوخت دخلکو دحیاتی سویې او تفکر ډول اوطرز او هغه عوامل په نظر کښی ونیول شی چه دهغو په سیوری کښې هغه سړی دلویۍ او ښه سړیتوب کارونه کړی وی.

ځکه په دې ترتیب دسړی دسړیتوب او لویۍ اصلی رنګ په ښه شان سره ترسیم کېدلای شی.

ددې لامله نوزه غواړم چه دټولو نه مخکښی دپښتنی دنیا یا پښتیانا په هغه وخت لږ شانته رڼاو اچوم چه خوشحال خټك پکښی ژوند کړیدی.

خوشحال خټك دهجری قمری په (۱۰۲۲) کال کښی چه دعیسوی د ۱۶۱۳) کال سره برابریږی زیږیدلی، (او په ۱۱۰۰ هجری قمری او (۱۶۸۹) عیسوی کال کښی مړ شویدی. دا وخت په تېره بیا په ختیزه (شرقی) دنیا کښی مخصوصا دژبې، وینې او نسل په اساس دملیت نوم هم تقریباً چانه پېژاند، په هند کښی دمغلی سلطنت زور او طاقت و، او پښتیانا هم دهند د مغلی دولت په منګلو کښی لوبید له، خو په دومره توپیر چه په پښتیانا کښی خال خال دپښتون او افغان په نامه دمغلو په مقابل کښی جنګ جګړې کېدلی، یعنی یوائې په پښتیانا کښی د ننني زمانې د ملیت نوم لږ ډیر ژوندی و، خیبر به هر وخت د مغلی لښکرو په مقابل کښی د کوه قاف د غره په شان سخت و، تا تره دمغلو هدیره جوړیدله او په کابل او کندهار کښی دمغلو ګریوان کله نا کله څیریده، د ګوملې اواره لاره به هم دمغلی فوځو نو د پاره کله کله دسپین غره نه سخته لاره شوه او تېریدل به ورته پرې ناممکن شانته وو.

خوشال خټك د پښتنو او مغلو تر منځ په همدې اخ و ډب کښې لوی شو، دخوشال خټك پلار دمغلی پا دشاه شاه جهان له خوا د خانی نوم در لود او په قام کښې هم دلوی نوم خاوندو په دې ترتیب خوشحال خان دخانی په دبد به او عیش او آرام کښې لوی شو او دپلار د مرګه وروسته د شاه جهان له خوا د پلار عزت او منصب ده ته ور کړ شو خو چه دپښتنو سره به یې دپردی حکومت چال چلند او پیش آمد ته کتل ورو ورو به دپردو سره دمرستې او ملاتړ په کولو پښیمانه کیده کوم وخت چه شاه جهان مړ شو او دهغه په ځای اورنګ زیب دډهلی په تخت کیناست او دعالمګیر لقب یې ځان ته غوره کړ هغه د پښتون په نامه دپښتنو تش افتخار کول هم و نه شوه زغملای او فیصله ئې وکړه چه د پښتون په نامه دپښتون ژوند هم ختم کړی او درشتینی ملیت احساس چه هغه وخت په پښتنو کښې ؤ دهمیشه دپاره دهغوی له مغزو نه وباسی.

دپښتنو سره دپردی استعماری حکومت دغه چال چلند او دهغهو په مقابل کښې دا یمل خان مومند دریاخان اپریدی او نورو پښتنو جنګ جګړو او مقاومت او په پښتیانا او هند کښې دپښتنو دتېر عظمت دتاریخ لوستلو، د خوشحال خټك آزاد پښتنی روح ورو ورو په هیجان راؤست دپردی استعماری حکومت په مقابل کښې یې دهغه په ماغزو کښې دانقلاب او مقاومت اوربل کړ. هغه دډېر فکر او سوچ نه وروسته دافیصله وکړه چه د پښتون ننګ او غیرت ته ددې نه لوی پېغور څه کېدلای شی، چه په پښتیانا کښې استعماری حکومت وی او په پښتنو زور زیاتی کیږی؟ هغه دآمو او اباسین په شور، زوږ پوه شو چه دا دواړه پښتنی سیندونه دپښتون په غلامۍ او محکومیت ناري سوری وهی او ژاړی. هغه د پښتیانا فضا ته کتل چه دا هر پسرلی چه په دې مځکه کومی او به راتویوی هغه دباران څاڅکی نه. بلکه هغه اوښکی دی چه پښتنی فضا یې د پښتنی مځکی د اوسېدونکو د دې بد او نامراد حالت په ویر کښې رالونی دا حال دخوشحال خټك دهمت دپاره قطعا دمنلو نه و، او دا فیصله یې وکړه چه :-

بله هیڅ لیدله نه شی په دا منځ کښې * یا مغل له منځه ورك یا پښتون خوار

دا وخت ؤ چه خوشحال خټك په یولاس کښې توره او په بل لاس کښې قلم پورته کړل او د دواړو په طاقت یې په پښتیانا کښې دمغلی استعمار په مقابل کښې دتورې او مړانې، پښتو او غیرت هغه کار نامې وکړی چه دری سوه کاله وروسته نن هم پښتانه پرې ویاړ او فخر کوی او دنیا وال پری آفرینونه وای، او تر څو چه دنیا و دانه وی دخوشحال خټك نوم او عزت به ژوندی وی او په پښتنی فضا کښې به انګازې کوی.

دخوشحال خټك ټولي مجادلې چه دهند دمغلي حکومت په مقابل کښې يې کړيدي دپښتو، پښتون او پښتيانا دازادۍ دپاره وې، او ددې لامله په دغو جنګونو کښې د فتح او بري دپاره هغه دهرڅه نه زيات دملت وحدت او يووالي او په يو مرکز راټوليدل ضروري ګڼل ددې مقصد دحصول دپاره هغه ډېر شعرونه ويلي دي، خوزه دبېلګې په ډول دهغه دا يو بيت ليکم چه وايي :-

درست پښتون له کندهاره تر اټکه * سره يو دننګ په کار پټ واشکار

خوشحال خټك چه کله دجنګ په ميدان کښې دپښتنو ځلميانو دتورو برېښ ليدلي چه د مغلي لښکرو سترګې ئې ړندې کړي او دهغوی په وينو ئې سپين ميدانونه رنګ کړيدي. نو په دې حال وياړي و داسې وائي :-

پښتنو ځلميانو بيا لاسونه سره کړل
لکه باز منګلې سرې کاندې په ښکار
سپينې توري يې کلګلونې کړې په وينو
په اهاړ کښې شګفته شو لاله زار
ايمل خان درياخان دواړه مرګ ئې مه وه
هېڅ تقصير دواړو ونه کړ وار په وار
دخيبر دره ئې سره کړله په وينو
په کړ په ئې هم روان کړ دندوکار
تر کړ پې تر باجوړه سمې غرونه
په لړزه په زلزله شول په بار بار
په هغه لوري چه کيږي پنځم کال دي
هره ورځ د سپينو تورو خر پهار
بله هېڅ ليدلي نه شي په دامنځ کښې
يا مغل له منځه ورك يا پښتون خوار

دپښتيانا جغرافيائي موقعيت داسې دي چه دپېړو پېړو راسې هروخت داستعماري طاقتونو په مقابل کښې جنګ جګړو ته مجبور شويدي، دسکندر نه تر دارا او داورنګ نه تر فرنګ پورې هرطاقت چه دې خوا راغلي، دپښتنو سره ئې ټکرې وهلي او زور ئې ورسره آزمېيلي دي، او حتي اوس هم پښتنو ته له ځانه دپردي استعمار دپېغور دليرې کولو کارور په غاړه دي.

ددې لامله چه استعماري طاقتونو هر وخت زور اوزر دواړه پښتنو ته ور وړاندې کړي او ځينې کمزوري پښتانه دپردو په زرو يا منصبونو غوليدلي او په قام کښې يې بې اتفاقۍ اچولي دي ، خوشحال خټك پښتنو ته دپردو دزرو او منصبونو سره تړلي بدبختۍ ته ګوته نيسي اوداسې وائي :-

پښتانه لره منصب ندي غضب دي — چه تلاش د اضافو کالا بې دال
که هزار کاندي پښتون مغل به نه شي — بويه دا چه له زړه وباسي داخيال
دهاتي دمزري روغه که څوك غواړي — هېڅ د دې خبرې نشته احتمال
پښتانه لره شړۍ انډېري ښه دي — نه اغوستي دمغل د حجري شال

يا داچه :-

په داهسې وخت چه وخت دنام او ننګ دي — د ابي ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کانا پوه دي — بې د توري خلاصي نشته په بل کار
پښتانه په توره ښه دي تر مغلو — که په پوهه پښتانه واي څه هو ښيار

دپښتنو پر واوجنبو او بې اتفاقيو لکه څنګه چه نن دقام خواخوږي سېکن کړي دي دخوشحال په زړه ئي هم داغونه ايښي وو اخوشحال دپښتنو ددې بد بختۍ نه ګله کوي او هغوي ته خپل عظمت داسي وريادوي :

هره چار د پښتانه تر مغل ښه ده — اتفاق ورڅخه نشته ډېر ارمان
دبهلول او دشير شاه خبرې اورم — چه په هند کښې پښتانه وو پادشاهان
يا هغه پښتانه نورو وداڅه نور شول — يا دخداي دي اوس داهسې شان فرمان

که توفيق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي به داخوان

دا دفتر ډېر ډېر اوږد دي خوزه ئې خاتمه دخوشحال خټك بابا په دي بيت کوم چه وائي :-

چه مغلو سره کينا ستل مغل شول
د افغان سره چه کښيني نو افغان شي

ښاغلی قند هاری رشاد

دمغلو په مقابل کښی د پښتنو سیاسی موقف

او خوشحال

اوومه هجری پېړۍ (پښتیانا) لره یو بدمرغه پېړۍ وه څرنګه چه دنیم وحشی تاتاریانو دآسو، سوې دآمو پردې غاړه ولګېدلې له دې اوېجی څخه ډاډ، امن، ښادۍ او نېکمرغۍ دلېږ د نغاره ووهله څو مره چه دوطن پرستۍ او ایثار جزباتو پښې خرلې هغو مره دتعدی او خونخوارۍ هڅه لاپسی پارېدله .

دوږ ستر کو متجاوزینو سبعیت دوږی او قهرېدلی شیهین په څېر په انسانیت او مدنیت پسی دځالی، ځالی واښه، واښه او ډوکی ډوکی لټ پرلټ کړل.

هغه برله ایشېدونکی قوت چه دعقل او عاطفې ملو نه ئې شلولی ؤ دخپل نهایی عروج په بدمستی کښی ددې بڼ ګلونه ترمی ترمی کړل او ددې سیمو درنګ او بوی دنیائې تالا تالا کړه .

ارمانولا په وینو ژړل او د مظلومیت سو لګۍ لا ه وې درېدلی چه دانمی پېړۍ په روستی نیمایی کښی دګو ډتیمور نا تارونه دچنګېزیت دوهم پنځ (نشاة ثانیه) ثابت شو، دوطنپرستۍ په ګناه دسړو په وینو ژرندی و ګرزېدلې (۱) په شلو کله منارونه ودرېدل په زرهاو ژوندی بدنونه دکلاؤ په ودانی کښی دخښتو پرځای کار شول (۲)

په دې ډول یپلا بیا دیوه سفاك قوت په سیوری کښی نهایی قساوت خپله منحوسه بڼه څرګنده کړه او ددې سیمو پرډاډ، امن، خوشالی او سخ ئې ټکه ورپری ایستله .

وختونه تېرشول، څو پښته ومړل نژدې ؤ چه دتیموری ناورینو نکلونه له خولو ولوېږی ډاډ هم د زړه مزلو ته ګام را اوږد کړی ؤ دکو ګلو ټپونه رغېدو ته نژدې ؤ چه ناڅاپه دلسمی پېړۍ په سر کښی د (بابر) تاړاکونه دپښتنو دکور تندری شوې، له کابله څخه ترقندهاره پوری دپښتنو مېنی په وارو، وارو تالا، تالا شوې، په بنو، بنګښو، کسې غره او ګردېز کښی دحریت پسندو پښتنو له خیاله ورو ککر بو څخه څلی څلی ودرېدل (۳)

په باجوړ کښی درې زره سرغړاندی پښتنی څوانۍ په یوه روځ دبابر دتوری دروږ شوې (٤)

په ۹۳۲ هـ کال دپانی بث ګڼه ګڼه داوولسو زرو پښتنو ځلمو په وینو او به او دلو دیو ددرنې پاچهۍ بیرغ چه له ۸۰ کالو راهیسی په شمالی هند کښی رپېدی رانسکور کړه شو (٥)

---

(۱) روضة الصفاء ٦ ټوك ۱۰۸ مخ (۲) دشرف یزدی ظفرنامه (۳) بابرنامه ۹٤، ۱۲۹، ۲۳ مخونه
(٤) بابر نامه ۱۳۷ مخ (٥) بابرنامه

ځپلو پښتنو دبابر تاړا کوته دیوه ژرتېر ېدونکی سېلاب په سترګه کتل مګر کله چه یې دده منګولی به دی سیمو کښی دټینګار له پاره په زیار بوختی ولیدلې دخپلوا کی جز به ئې وپار ېدله دمغلو له مظالمو څخه خوړېنو زړو ورؤ ورؤ دسلطان محمود لودی میاپین شاهو خیل او شیخ بایزید تر مشرتا به لاندی اتحاد او تنظیم موند (۱)

څوپای ته د پښتنو د انتقام، قهر او خپلو اکی غوښتلو جذبی د آسمانی اټکو په څېر یو په بل پسې دبابر پر اخلافو را پر یو تې او همایون ئې په ۹۴۷ هـ کال دسوری شېرشاه له تور بریښه کلونه کلونه د ایران دپاچهی مېلمه کړ - کله چه د نفاق او مخالفت لمبې په شېرشاهی کورنۍ پوری شوې دبابر په اخلافو کښی بیا دملك ګیری سا وچونېدله او په ۹۶۲ هـ کال کښې دیوې پخې پاچهۍ تیږه کښېښو وله مګر ورسره دپښتنو حریت طلبی ذاباسین پردی غاړه دروښانیانو مشرتا به لاندی دیوه نیم سیاسی او نیم مذهبی تنظیم تحریك په شکل ځان څرګند کړ.

دپیر روښان د(چورې) او(توری راغې) جنګونه دپیر روښان د مشرزوی شهید شیخ عمر پاچا د(سور کاوی) او(مېنی) جنګونه دشهید شیخ عمر پاچا د کشرورور شهید جلال الدین د (بلندری) او(بنګنیو) جنګونه دشهید شیخ عمر پاچا دزوی شهید حداد د(سنګ پاژې) او کابل جنګونه، دشهید حداد دزوی عبدالقادر دپېښور جنګ، او دیوسف خان اپریدی او هزار میر ارکزی د(تیرا) جنګونه ددې ځنځیر کړی دی چه یو په بل پسې ئې نژدې یوې پېړۍ ته دوام درلود (۲) دا باسین پوری خوا دملك په پایتخت آګره کښی درانه او غیر تمن پښتانه خان جهان لودی شاه جهان مغل ته په ۱۰۳۸ هـ کال دمخالفت لېڅی راوغښتلې دچمبل، راجوړې، سرونج بهانډېر او سندرې په جنګو کښی په خپله خان جهان، عزیز خان، محمود خان عظمت خان او حسین خان زامن ئې داودزی دریاخان، روهیله ابمل خان او صدر خان غوندی نومیالی مله ئې له دووزرو پښتنو ځلمو سره دمغلو دتورو توك توك او توتې توتې شول ددغو پښتنو نومیالیو په وژله دمغلو په دربار کښی ښادنامې وغږېدې او ککرۍ ئې ښار په ښار وګرزولی شوې (۳)

که څه هم دمېړنی خان جهان په وژلو سره دا باسین په پورې خوا کښی دپښتنو د حریت طلبۍ له نغری څخه بیا لمبه را پورته نه شوه مګر د اباسین په دې خوا کښې دا پوړندی هروخت شنلی کېدلې او کله کله داسی لمبې ځنی پورته کیدې چه دمغلو دحاکمیت او اطمینان په ماڼی کښی به ئې څه نه څه کنډونه پېښول.

دې اورته له قندهاره څخه رانیولې ترسواته پوری ټولو پښتنو لمن وهله مګر اورغالی

---

(۱) بابرنامه (۲) بایزید روښان (۳) خان جهان لودی.

یادتحریك مرکزئي (روه)ؤ(۱)

کله چه په ۱۰۵۸ هـ کال ناسیاله بهادر خان داود زی دشاه جهان هغه وفاداره لوی پښتون امیر چه دمغلو په طرفداری ئي ددریا خان غونډی تور یالی پلار له وژلو څخه ځان ونه ژغوره تراباسین راپوری وت او دپښتنو دحریت طلبۍ دجذبا تو توښ ئي ولید دده په مغلپرسته زړه کښی لاهم دپښتو دآزادۍ یاخپلی پاچهۍ هڅه پیدا شوه او له پښتانه (کاکا صاحب) څخه ئي دخپلی پاچهۍ له پاره دعاوغوښتله .(۲)

ددې نغری په تودوالی کښې لومړی دیوسفزو زیاته برخه وه او داتک پرغاړه دمغلو له لاسه دیوسفزو کله منارونه ددې ادعا څرګندې نخښی وی یوسفزو په ۱۰۷۷ هـ کال دملك باکو اوملا چالاک تر مشرتابه لاندی په رډه د مغلی سلطنت د مخالفت نغاره ووهله او یوسړی ئي په خپل منځ کښې «دمحمد شاه» یا شاه شجاع» په نامه پاچا کړ دمغلو بیشماره لښکری له هری خوا پر را و بهېد لې او دوه زره تنه یوسفزی ئي په یوه ورځ تر تیغ وایستل ، دوه کا له پلـه پسې داجنکو نه روان ؤ او دیوسفزو ملک دمغلو له لاسه الوی الوی شو (۳)

په ۱۰۷۹ هـ کال دبېښور مغلی حاکم دیوسفزو ددایمی ځبلو له پاره دیوسفزو په سمیه ګړی کپوره کښی د(لنګر کوټ) ودانۍ ته لاس ورته کړ ،

پردې خبره زموږ دپښتانه سردار او منلی شاعر (خوشحال خان) مخالفت له مغلو سره څرګند او له دغی روځی څخه دد ملی او قامی ژوند شروع شو. ځکه چه دغه وسیع النظره مشرنه غوښتله چه دیوسفزو پښتنو دځبلو له پاره دی ددوی په سیمه کښی داچهاونۍ ودانه اودتل له پاره دی ددې توریالیو پښتنو دسرچنګک اودکوګل غشی وی لکه چه وایی:

لنګر کوت مغلو ساز کړ — زه په ننګ بیاد افغان شوم
که یوسف و که مندړؤ — زه د دواړو نګهبان شوم (٤)

---

(۱) په آغر نامه کښی لیکلی دی. (۲) خوشحال ختك ۵۸ مخ (۳) خوشال ختك ۱۱۲ مخ (٤) خوشال ختك ۱۲۳ مخ

افاغین زهر سو برانگیخت سر ☆ همه بسته برخون (آغر) کمر
ز حدا تك تا حد قندهار ☆ پدید آمده لشکر بیشمار
همه جمع گشتند بهر مصاف ☆ تو لشکر مگو بلکه یك کوه قاف
مسلح همه گشتند از بهر کین ☆ رسیدند بر حد لمغان زمین

خوشال خان وائی :

درست پښتون ترقندهاره تر اټکه — سره بود ننګ په کارپټ وآشکار

(دخوشال کلیات ۲۹۲ مخ)

ننګیالی خوشحال خان له دغې روځی څخه قوت بغاوت ته ملا وتړله چه دپښتنو دحریت سر لوړی مخه ئې تړلې وه.

ده دمغلو هغه وړاندی کړی منصب یعنی دیوسفزو حکومت چه دخپل قام سره دغداری په بیه ئې ورکاوه په لغته وواهه او دملی خدمت له پاره ئې په میړانه لېڅی او بډی دواړه را وغښتلې.

له دغه وخته دده ژبه او موټ غبرګ دپښتنو دیووالی او خپلواکۍ له پاره وقف او دده زړه ولاس ترمرګه پوری دمغلو دمغلو بیت او تضعیف له پاره په کار ولو بدل.

په دغو وختو کښی د خوشال خان اشعار هغه مرغلری نه وې چه د زړه وړونکو ښکلو دغاړو امېلو نه دی شی بلکه هغه دسوز او ښکی وې چه زړونو ته توئېدلې او دپښتنو زړونه ئې سره پېودل.

په دغو وختو کسی که له یوې خوا دخوشال تېرې توری غلیم مغل په وینو ژړول له بلی خوائې له اوره ډکی ژبی دخپلو پښتنو دغیرت او مېړانی په کورلمې پوری کولې.

په دغو وختو کښی که له یوې خوا دده غښتلی موټ دغلیمانو په صفو کښی درزونه اچول له بلی خوا ئې دخپل خوازه بیان او له غیرته ډکو اشعارو په برکت دخپلوانو زړونه ترنو کو اوری سره نژدې کول.

په دغو وختو کښی خوشحال خان یو اځی هغه شاعر نه ؤ چه دخپل عالی تخییل په قوت ئې دآسمان په ستورو کمندونه اچول بلکه هغه پیاوړی پهلوان ؤ چه دقام دسر لوړی له پاره ئې سانګی زړونه وزغری سره ګنډلې او توری ئې سرونه ؤ سپر سره سکښتل.

خوشال خان په دغو وختو کښی دهغو ارزو ګانو دترسره کولو له پاره چه ژبی او قلم ئې څرګندول عملا غړی غړی روغ ؤ دده شاعری هم لکه دده لاسوو پښو دقام په ژوند پسی د (روه) لوړی و ژوری غوښتلې او زما په ستر ګو دده د شاعری یو غوره امتیاز دا ؤ او بس

ښاغلی م. ننګرهاري

داسی به ګڼړی

انتظار په ختمیدو دی د بهار — په تیارو وخت دخندادی دسهار
بویه داچه اوس وختونه په ارخ واوړی — بویه داچه داساحل شی یوآبشار
بویه داچه نور داسورشفق اوروا خلی — اورنې کړی تیار بکیږ دانتظار
دنګرام دښکلا ځنی اوربل جوړشی — چه داخرچمن بومخ شی لاله زار
او سندری شی د مینی پکښی ګډې — چه هر ګل شي ترنم د یکه زار
د ګلونو داخوانی له مستی ږدکی — کړی فضاله بوي مخی نغمه سار
داوري ستاري واړه شی را تولې — اوشی تولی د لیلی د غاړی هار
دانش جام بوپیمانه شی دسرومیو — پیمانه هم د نشی هم د خمار
دا جو هر دنور سرور او نشاطونو — په سرولا سو یا رته و نسی نګار
دغه وخت کښی درقیب په زړه تیاره شی — اونطرئی شی له دې منظر نثار
دغه وخت ئی له دماغه شی دود یورته — او ګو ګل ئی شی کباب په دې انګار
دغه وخت کښې دی قارون دخزانو شی — په شا کړی ئی دسرو مهرانو بار
دلالونو د.رشی په بدل غواړی . . — له موسی ځنی هم طوراوهم انوار
یابرعون شی شیطان نه سجده وکړی — راښکاره دزو لنو کاندی انبار
دغه وخت جذبی بهر شی له اختیار — اوعشق چغه کاندی یورته په یووار
دانښخ شی دفرهاد له شوقه جوړه — چه کړی غوښ ترکانی کلک زړه داغیار
دابه وی د انتقام جذبه سر کشه — دا به چا دپاره نوروی چاته نار
داخندابه وی دقیس په صحراپوری — او ښکالو د کجاوی به وی د یار
دابه لاس وی دباغوان دخار په پریکړو — دا نظر به وی په ګلو دما لیار
دابه سره شمع بلیږی په محفل کښی — اوپتنګ به تري تاوبیږی بی اختیار
دابه وی یوه بلنه د یو حسن — دا به وی دلیونی مینی اقرار
دا کمند به دسر کش رقیب په پښو وی — دابه ملا دبی انصاف ساقی ګوزار
دابه چغه دعلی وی په خیبر کښی — داحساب به د منصور روی اود دار
دابه زار کړی هر ساحل ترخپله موجه — د ګرداب به لاس به ور کاندی کنار
شل اور لګه به کړی زار تر بوخوشحاله — اولوګی پردی چمن له خپل کهسار

بیا به هله نه خوشاله په امان شی !
د مفو لو د سورو له ګرد غبار

ښاغلی حبیب الله «تیږی»

دخوشحال خان فلسفی

اشعار

زه غواړم چه پخپل وار دخوشحال بابا دفلسفی اشعار وپه برخه کښې خبرې وکړم مګر دې د پاره چه خبری لږ څه پخې غوندې وی نو لمړی پخپله فلسفی اشعارو په لنډ ډول سره تیر یږم او بیا د دغه پیاوړې ادیب او نومیالی شاعر په فلسفی اشعارو څه نه څه وایم. خو مخکښی تر هر څه نه داټکی دیادولو بولم چه زما د مضمون عنوان به تر خپله مضمون څخه ډیر قوی او د روندوی. ځکه یو خو په یوه ټاکلی لړ کې په اختصاص ډول سره خبرې کول دا جمال په څیر څه آسان او او یا داسی کار نه دی چه یوه له یوه غره او بله د بل غره څخه وا لوزول شی او د مضمون نوم ېرې کیښودل شی، بله دا چه زه پخپله هم په فلسفی مکاتبو کې څه پوره بلدیت نه لرم. اما سره له دې تو له خبرو بیا هم د خپل ذوق په مراعات هڅه کوم چه د ویل شوی عنوان په شاوخوا کې د خپل توان سره سم څه نه څه ووایم.

تر کوم ځایه پورې چه زه مطالعه لرم دا خبره پوره را نه جوته ده چه په ادبیاتو کې مطلب د فلسفی څخه هغه علوم او یا فنون نه دی چه پوها نو د منطق او د علومو د ویش په اساس فلسفه ګڼلې. بلکه دلته د علامه شبلی خبره مطلب د فلسفی څخه هغه مطالب دی چه د یوې مسالې په توګه د شاعر په دماغ کې پیدا کیږی او بیا یې د شعر په بڼه په یوه ځانته ډول او خوږو الفاظو سره څرګندوی. ځکه که داسی نوی نو بیا دغه ډول مضمون ته شعر نه شو ویلی. بلکه یو لړ وچ فلسفی مطالب به وی چه د نثر پر ځای په نظم سره ویل شوی وی.

په عمومی ډول سره د ځینو جړو او له شك نه ډکو خبرو څیړل درازو نو راسپړل، د ژوند او مرګ حقیقت په برخه کې پلټنه کول د فلسفی اشعارو موضوع بلل کیږی.

په پښتو کې فلسفی اشعار پخوا تر خوشحال خان هم ویل شوی دی، خو زه دلته د هغو دیادونی او یا د فلسفی اشعارو د تحول څخه په پښتو کې د وخت د مراعات په نسبت تیر یږم ځکه څرنګه چه په پاړسو کې ناصر خسرو د اشعار و د کمیت او کیفیت له مخې د فلسفی اشعارو بانی بلل شوی، دی نه د قدامت او اولیت له مخې، نو دغه ډول خوشحال خان هم زه په پښتو کې د شعر د کمیت او کیفیت له مخې د فلسفی اشعار و بانی بولم. بر سیره پردې یوه بله خبره هم دا حق خوشحال خان ته ور کوی چه هغه د فلسفی اشعارو ډیر ښه ډول یعنی رباعی ده چه په پښتو کې یې ډیر ستر استاد خوشحال خان او پاړسو کې عمر خیام پخپلو رباعیاتو خلکو ته څرګند دی اما کوم مطلب چه دلته باید د اشتباه د نه پیدا کیدلو د پاره وویل شو هغه د خوشحال خان ځینې

سیاسی فلسفی او یا ملیت ته منسوب اشعار دی چه د فلسفی اشعارو د لمړنی تعریف سره نژدې پریښی. ځکه د فلسفی اشعارو د تعریف په برخه کی ما د مخه وویل: په شعر کې فلسفه هغه مسائل دی چه د شاعر په دماغ کې پیدا او بیا په یوه ځانته او خوږه بڼه څرګند شی. لکه دا چه میرمن نازو وایي:

سحر که ؤ د نرګس لیمه لانده * څاڅکی څاڅکی یې له ستر ګو ځڅیده
ماوی څه دی ښکلی ګله ولی ژاړې؟ * ده وی ژوندمې دی یوه خوله څندیده.

مګر اقبال خپل د اشعر چه:

شبی زار نالید ابر بهار — که این زندگی گریهٔ پیهم است
درخشید برق سبک سیر گفت — غلط کرده یی خنده یک دم است

د هغی فلسفی په اساس ویلی دی چه یې د (اپیکور) او (شوپنهاور) د مکاتبو په نامه اوستی دی. نو دغه ډول د خوشحال بابا په اشعارو کې هم ځکه سیاسی فلسفه ګډه او یا یې په دیوان کې د سیاسی فلسفی اشعار وسلسه روانه ده چه دی هم د اقبال په څیر یوازې شاعر نه دی. بلکه د کلم سره یې نوره هم څنګ ته غوږ ځولی او د خپل ملیت د مرګ او ژوند په نامه یی مبارکه مبارزه کړې ده. د ده دغه لړ اشعار زه د فلسفی اشعارو په لړ کې ډیر مهم او د پوره څیړنې وړ بولم چه د مضمون په پای کې به بیا پرې راوګرځم ځکه د نوموړی ملی مشر دغه ډول اشعار د ځینو یو شان او بل شانته مفسرینو د غلط تفسیر او یا د ځینو نورو عوا ملو په اثر رټ غلط تعبیر او توجیه شوی دی چه دا زه د خوشحال بابا د شخصیت په برخه کې یو بیځایه او ښکاره ظلم بولم.

د خوشحال بابا د فلسفی اشعار و ځینې نورې برخې هم د څیړنې وړ دی چه دا دی د نشنلستۍ د فلسفی څخه یې د مخه په دا نور و برخو په لنډ ډول سره خبرې کوم:

د مخه ما وویل چه د فلسفی اشعار یوه ډیره ستره موضوع د خلقت د راز سپړل دی چه له یوې خوا فیلسوفان خپل دلائل وربا ندې اقامه کوی او له بلې خوا شاعران پخپلو شاعرانه الفاظو کې خبرې وربا ندې کوی.

شاعر د ځان څخه پوښتته کوی چه آیا زما رانګ له کومه وو او چیرته به ځم؟ آیا د عالم سر که ؤ او پای به یې څه مهال وی؟ لکه دا چه کلیم وایی:

ما ز آغاز و از انجام جهان بی خبریم — اول و آخر این کهنه کتاب افتاده است.

خوشال بابا د حیرت پدغه بحر کې لویدلی او داسی لاس او پښی وهی:

حیران یم نه پو هېږم چه زه څه یم څه به شم

له کومه یم راغلی بیا به کوم لوری ته ځم

جهان یو کټوری شو زه په مثل دمېږی یم

حیران یکښی جار وزم لاس پښی یکښی وهم

دغه ډول ډېر زیات فیلسوفان دی چه دپوهې ډېر لوړ معیار پخپل جهل باندی اعتراف بولی.

لکه دا چه مارك وایی: زموږ ټول علم تر دې نه زیاتیږی چه په خپل جهل باندې اعتراف وکړو

یا دا چه حکیم عمر خیام وایی:

هرگز دل من ز علم محروم نشد — کم ماند ز اسرار که مفهوم نشد

هفتاد و دو سال فکر کردم شب و روز — معلوم شد که هیچ معلوم نه شد

خوشال هم پدې برخه کې غلی نه دی ناست او وایی:

ما چه نظر وکړو په ذرات په موجودات * گول په جهان راغلم ترې به گول درومم هیهات

هیڅ ولی نبی یې درست اسرار مونه لی ندی * لو په کارخانه ده که وگوری کائنات

شوپنهاور نامتو فیلسوف دژوند مدار غم بولی او وروسته تر او یا کلو تفکر وایی:

انسان ددې دیاره دی چه په ویر کې ومری.

خوشحال خان دغه فلسفه دشعر په ژبه داسې بیا نوی:

ما په دا جهان کې غوښته مونده نه شوه * که په بل جهان پیدا شی خرمی

چه په هیڅ ساعت خالی نه وی له غمه * مگر غم لره پیدا دی آدمی

دفلسفې اشعار و ویونکی دمذهب په برخه کې هم خپل فکر آزاد ډول څرگند وی او د

نړۍ دمذاهبو داختلاف منبع دخلکو جهل بولی دوی هم دمادی فیلسوفانو ددې عقیدې سره سم چه:

که مذاهب درست وای نودا دومره اختلاف به ئې ولې لاره خپله نظریه داسی څرگند وی:

جنگ هفتاد و دو ملت همه را عذر بنه * چون ندیدند حقیقت ره افسانه زدند

دحافظه دهمدغه پورته بیت مطلب خیام داسې بیا نوی:

قومی متفکر اندر ره دین * قومی بگمان افتاده در راه یقین

میترسم ازانکه بانگ آید روزی * کای بیخبران راه نه آنست نه این

خوشحال بابا خپله فیصله په دې برخه کې داسې صادروی:

خلک نادیده دی چه خبر و پسې ځغلی * ځار تر هر ښیارانو چه په حال دی پوهیدلی

دوه او یا مذهبه یکښی هومره قال وقیل * واړه سر هوا پخپل مطلب پسې دی تللی

خوشحال بابا حدوث او فنا هم دځینو فیلسوفانو په څیر په جهان کې نه منی بلکه وایی

چه‌یه طبیعت کې یو ازې تغییر دشکل موجوددی نه داچه څه‌دې ور څخه کم اویا زیات شی نو له دې امله وائی:

دا څه نورې خاورې نه‌دی چه‌پرې درومې * خاورې شوی ښکلی جو نه دی ځوانان

یاداچه:

له دې خاورو نه‌چه گل زیږې خوشحاله * دایه داچه تل ور درومی‌مه جبینې

خوشحال بابا پخپلو دغه لړ اشعارو کې تل‌حال غنیمت گڼی‌اوپه ماضی پسې څه‌سر نه خوږ وی.

دی‌په دې برخه کې‌دخیام ددې رباعی مطلب چه:

ازوی که گذشت هیچ ازو یاد مکن * فردا که نیامده است فریاد مکن

بر نامده و گذشته بنیاد مکن * حالی‌خوشباش و عمر باد مکن

په‌ډېرو خوږوالفاظو کې‌داسی بیانوی:

نن‌خوشحاله‌دزړه داد دعشرت ور کړه * دا څو ور ځې غنیمتې څو گلزار شته

یا داچه‌وایی:

جنت لرم حور او قصور لرم * بل دار تر دا نه په نعمت پور لرم

چه وایی هسی دی واړه منلی * ما ته د اپرېږده چه دا حضور لرم

خوشحال بابا دجبر دفلسفی په برخه کې‌هم ځانته تسلی ور کوی اووایی:

چه له ځایه‌یې گناه‌اره پیدا کړم * که نظرو کړی زما بیگناهی‌ده

اودا دی‌په‌پای کې بېرته‌خپلې هغې خبرې‌ته راگرځم چه‌مې‌د مضمون په سر کې یاده کړه اودخوشحال بابا دنشلېسم یادملیت فلسفه‌باندې خبرې کوم.مگر داسې‌خبرې چه‌مطلب‌یې دخوشحال بابا دملی فلسفی دغلط‌تفسیر څخه دپیدا شوی تعبیر له مینځه وړل‌وی.ځکه چه خوشحال بابا یوڅه‌ویلی‌او مفسرینو یې بل څه.

محترمو اوریدونکو: کله که ځا دپښتنو دتاریخ پاڼې په‌تو کوسره هم اړولی وی‌نو به داخبره‌ورته‌څرگنده وی چه‌دخوشحال بابا ژوند دهند دمغلی امپراتورۍ دعظمت او قدرت ددورې سره‌یوځای دی، چه‌بدې‌وخت کې دپښتنو ملیت هره گړۍ دامحاسره محامخ برېښی. نو له دې امله خوشحال خان دملیت دفلسفی په‌اساس چه‌دهغه‌وخت ترټولو عملی سیاسی فلسفو څخه عالی فلسفه ده، بډې وهی‌او دمغولی امپراتورۍ سره خپلې مبارزې ته‌دوام ور کوی. زه‌خو دده دامبارزه یوه‌ضداستعماری اویادهغی امپراتورۍ په‌مقابل کی‌مبارزه بولم‌چه‌یې هره گړې‌دپښتنو ور کې‌ته ایښې‌وه‌او کوششونه یې کړل ځکه‌شخص دمحیط زیږنده‌او شخصیت دمحیطی‌عواملو څخه میدان‌ته‌راځی نو ددې‌امله بایدوویل‌شی چه‌دخوشحال څخه‌هم محیطی

عواملو خوشحال جوړ کړ، نه کوم بل څه یا په بله ژبه د خوشحال مبارزه یو عکس العمل او د امپراتورۍ په ضد ده، نه د کوم نژاد او یا قوم ځکه دا یو واقعیت دی چه که دغه امپراتوری د انګلیسانو وی هم خوشحال جګړه ور سره کوله او که د جرمنیانو وی هم. که د افریقایانو وی هم خبره هم داوه او که د مغولانو وه هم اماله بده مرغه دې خبرې ته هیچا هم ندی کتلی او خوشحال بابا یې د یوې امپراتورۍ پر ځای د قوم دښمن یا په بله ژبه یو غټ فاشست معرفی کړی دی حال دا چه حقیقت بل وو هغه دا دی چه خوشحال بابا یو قوی نشنلست او د «مغو اوالې» د کلمې څخه یې هم مطلب د امپراتورۍ استعمار او استثمار دی. دی یوازې د پښتون له نورو سره برابری او له استعماره څخه یې خلاصول غواړی نو له دی امله کله که دی پښتانه تر مغولو په توره ښه بولې په پوهه یې ور څخه کم ګڼی او وایی:

تر مغولو پښتانه په توره ښه دی که په پوهه پښتانه وی څه هوښیار

دی د پښتنو د نشنلستۍ د روحی تقویې د پاره نور قومونه نه غندی بلکه پخپله پښتانه تنبیه کوی او وایی:

ځینې څه لویې دعوې لرم په زړه کښی ولې څه کړم چه پښتون واړه بې ننګ دی

ښاغلی محمد عالم «اتمان»

خوشال باباته

ای د پښتو پښتنولۍ نارینولی راهبره * ای دخپل کام کبیل وطن وطنولۍ راهبره
ای دخوږې عزیزولۍ اوخپلولۍ راهبره * ای دپښتون دیوولۍ اوورورولۍ راهبره
ستاپه ښو ونه قلم توره پښتونخوا نازیږي
ستاپه پوهنه لرو بره نارینخوا نازیږي

دا یو مونږ نه چه په زویتوب اوزوی ولی دې ویاړو * یا موته یلارئې په یلارتوب اوپلارولۍ دی ویاړو
یا موته خپل ئې پخپل توب اوخپلولۍ دی ویاړو * یا راته گرانی په گرانتوب او گرانولۍ دی ویاړو
ستا ننگ غیرت پښتنولی واړه جهان ستایلې
ستا کارنامې او شاه کارۍ تاریخ عیان ستایلې

ته په غیرت پښتنولۍ لکه ابدال یادیږي په ثبات عزم میړنتوب لکه غوروال یادیږي
ته په میړانه شجاعت لکه سیدال یادیږي په قلم توره بلاغت صاحب کمال یادیږي
تا مونږ ته لویې کارنامې ښه یاد گارونه ایښې
تا دمغلو په زړگې سوې داغونه ایښې

تا کام کبیل ته افتخار لوی ننگ و نام گټلی * تا په تاریخ کښې پښتنونه لوی مقام گټلی
تا حیثیت دپښتونخوا په لومړی گام گټلی * تا دمغلو په جبهه کښی په قیام گټلی
ته په تیره توره همت یی افتخار دپښتون
تا ته مونږ ځکه باباوایو همسردار دپښتون

ته د پښتون دعالی برم او جلال بابا یې * په توریالو کښی دتیرې توری مثال بابا یې
په نومیالو کښی راته گران سکه خوشال بابا یې * ته په جگړه کښې دمغل دسرزوال بابا یې
ته دپښتون په ننگ ولاړ توره له څنگه سره
دیرې دغرې دې وهلې له اورنگه سره

ښاغلی انوار الحق گران »

خوشال خان

دمجلس مشره، حاضرینو او اوریدونکو!

مونږ دلته ځکه راغونډ شوی یو چه دخپل تاریخ یو ډېر لوی شخصیت ته یو اځې دعقیدت او ادب سرتیټ نه کړو بلکه دهغوی دنیم ګړو خو بونو دپاره لاس او پښې شو، او دارزو ګانو دهغه اژدها مانۍ دپاره ئې ګټې، تیږی شود کومو په راغونډولو کښې چه هغه خپل ټول عمر نا ارام تیر کړ، دخپلو او پردو دښمنی ئې په سر واخسته، داغیارو دخندا او ملنډو نښه شو او په آخر کښې دمخالفو قوتونو دزر او زور، مکر او چلونو، دخپلوانو دنا کړدو او دزاړه عمر له باره په ملا چورلټ مات دلحد تورو تیارو ته ګوز شو. مونږ خوشال خان ستایو، هغه خوشال خان چه دانسانی تاریخ دهر دور او دانسانی هرې جامعې په ولیشتنکو کښې «دیو» باله شی، آیا دادعوه زه په دی کوم چه پښتون یم یا دخپل ملت دپاره دومره متعصب یم چه ددی باغ هر شپیشتری راته سپیردار او چنار او ددی پټی زقوم راته ګنی ښکاری زه تاسو ته یقین در کوم چه باالکل نه او باالکل نه. راځی چه دلویۍ دپاره انسانانو کوم معیار ټاکلی دی هغه راواخلو او په دی کس (محک) ټول کوټ بنګار، زر او جس راکاږو.

ایا انسان په دی لوې باله شی چه دلویو لویو ځمکو مالک، وداوچت نه داوچت اقتدار خاوند وی که داسې وی نو سقراط او افلاطون ته به څه وایی، چه دائې هیڅ نه لرل بیا هم نن دلویۍ اورنا ستنې بالی شی چه زمونږ انسانی کاروان ئې تردی حده په بلو لمبو راز سیدلی دی.

ایا انسان په دې لوی ګاڼه شی چه هغه په ژوند کښې په جایز ناجایز چالاکیو د کامیابی مانۍ ته ختلی په ما او تا خاندی که داسې وی نو عیسی علیه السلام ته به څه وائی چه دخپلی لوړی مفکورې دپاره ئې په خپل ژوند کښې ایله لس کسه راپیدا کړی ؤ چه دسختۍ په وخت کښې ترینه ټول وتختیدل او یو پکښې لا پرې جاسوسی هم وکړ، چه لاس تړلی ئې هغه چا ته حواله کړ چا چه په خپل قانون کښې دهغه د پاره بې دسولی دمرګه هیڅ ټاکلی نه ؤ.

ددی نه معلومه شوه چه دولت او حکومت، اقتدار قوت حتی چه کامیابی هم دانسان دلویۍ دپاره دلیل او معیار ندی.

هغه معیار نو بیا، څه دی؟ راځی چه دغه وګورو.

مونږ هغه انسان ته لوړ او لوی وایو چه دبشریت دلارښودنی دپاره ئې لوړ لوړ فکرونه راوړی وی چه ملتونه او انسانی جامعه پری لوړ مقام ته ختلای شی.

مونږ هغه انسان ته اعلی انسان وایو چه هغه د انسانی جامعې، بشریت او د بشریت د یو برخی په طور د خپل ملت د پاره ښایسته ښائسته خوبونه لیدلی وی او هغه ته بیا اعلی ترین انسان وایو چه د دغو خوبونو د تعبیر په لار کښې ئې عملی خدمت کړی او د خپلو مفکورو د کامیابۍ د پاره ئې د هیڅ قربانی نه ځان ژغورلی نه وی.

راځیء چه په دغه کس خوشال خان وګورو:-

تاسو ته ښه معلومه ده چه د انسان پیداوښت، په دی ځمکه د هغه راتلل د هغه د جامع ژوند، عقیدې معاشرتی آداب او بین المللی قوانین ټول د ارتقاء (او چتاش) په پوړۍ دی حد ته رارسیدلی دی چه نن پرې مونږ ولاړ یو مثلا شپږ لکه کاله وړاندې چه انسان دې دنیا ته راغی نو هغه، نه دا قوانین لرل چه مونږ ئې لرو، نه د یو بل سره د ګذاری په چل پوهیدو او نه ئې دا انسانی جامه اغوستی وه چه مونږ پرې نن و یاړ کوو.

دې ټولو ته هغه ورو ورو ورسیدلی دی، که انسان په دغه وخت جټ الوتکی ته ختلی نه وی یا سپوږمۍ ته درسیدو د پاره ئې Sputnik (روسی مصنوعی سپوږمۍ) (Explorer) (امریکائی مصنوعی سپوږمۍ) شغولی نه وی نو ته ئې د نن په معیار کرمولی نه شی بلکه راځی هغه اولین انسان ته سرښکته کړو چا چه اول اور را پیدا کړو او د ننۍ او هرې راتلونکې ترقۍ د پاره ئې انسان ته ساده مګر یو بسیط توکی (ماده) ورپلاس کړو، ځکه چه ستاسو (Sputniks) او (Explorers) ستاسو جټ او رېل ګاړی، ستاسو موټرې او لارۍ ستاسو فابریکی او بمونه، ستاسو ټوپك او راکټونه ټول داور په زور نن چلی او پس د دې به هم دغه توکی ته په یو یا بل شکل کښې محتاج ئیء ته هغه اولین هوښیار انسان ته سرښکته کړه کوم چه د پلار او ځوی.

ګاونډی او ګاونډی ترمنځه د سلوك د پاره څه اصول را پیدا کړل او د خپل کلی او کورخلك ئې په تبلیغ دی ته جوړ کړل چه د یو بل سره د ساده رفتار چل زده کړی راځیء چه مونږ نن د قوانینو دغه عالمان او فلسفیان د هغه قبر ته لوګی کړو.

دغه شان راځیء هغه انسان ته سجده وکړو چا چه په دې ارتقائی پوړیء لږ او چت خاندانونو ته په قبیلو، قبیلو ته په قومونو او قومونو ته په ملت کښې دغونډېدو نظریه راوړه چا چه ملتونو ته د ملیت احساس ورکړو چه د بشریت د مختلفو جامعو د بقاء یکی یوه لار او د انسانیت د ننه د ذهنی انارکۍ د مقابلی یکی یوه وسیله ده.

دغه انسان زه درښیم څوك دی؟ هغه خوشال خان ختك دی

دده نه وړاندې د ملیت احساس او تبلیغ نه تاسو په شرق کښې عملا لیدای شیء

او نه په غرب کښې . راځی ء چه دهغه وخت په تاریخ یو سرسری نظر وا چو :-

اولسمه عیسوی پېړۍ ده. دخوشال خان پلار څلور کاله وړاندی مړاودی دختکو دیوی قبیلې مشر شوی دی، چه پر موجوده برعظم چین چه اوس ور کښې ۶۰۰ میلیونه (کروړه) خلك اوسی یوه وړوکې منګول قبیله ورخیژی، دچین خپل ملی حکومت غرر ځوی اودا مانچو (Monchu) قبیله مونږ ونیو چه تر پرون پوری په چین حکومت کړی، ددی حکومت ۴۶ کاله وړاندی په کال ۱۹۱۲ کښې ختم شو. داولې ځکه چه دچین خلکو ته لا دملیت احساس شوی نه ؤ. دملك خپل خلك ځنې دخارجې حمله آورو لاس پښې شوی و. او ځنی داسې وچه دحکمرانانو په تبدیلۍ کښې ئې هیڅ دلچسپې نه لرله. هر یو ته به ئی داغزل وایه:-

عید رمضان آمدو ماه رمضان رفت * صدشکر که این آمد و صدحیف که آن رفت

راځی هندوستان و ګورو چه اوس هم دقریباً ۴۰۰ ملیونو (۴۰ کروړو) خلکو ملك دی او هغه وخت هم ور کښې دخلکو کمی نه ؤ ولی ذلته دمغلو حکومت کوم چه دیو نیم زر میله لیری نه راغلی دوطنی خلکو په څټ سواره شوی دی - ددی ملك خپل خلك او راجګان په دی فخر کوی چه د «یوجلد اشیان» «عرش مکان» مغلی پاچا ته سجده وکړی .

پخپله دپښتنو څه حال ؤ؟ دهندوستان داوړوکی براعظم مغلو دپښتنو نه اخستی ؤ. ولې په کوم زور او په کومو لښکرو؟ په خپله دپښتنو په لښکرو چه بابر دافغانستان نه په پښتون ابراهیم لودی پسی بوتللی وی او هله ئې ابراهیم لودی غریب پرېښود چه دپانی پت په میدان کښې ئی ترینه سرغوځ او هغه دسرو بښته ئې فخریه په خپلو خولیر کښې وټوممل .

تاسو باید نه دهغه وخت چین ګرم کړیء نه هندوستان او نه پښتون داد ذهنی انارکۍ زمانه وه او هرچا چه به په چالاکۍ څوکسه سواره په ځان پسې کولی شو دهغه دلاسه، نه دځمکو تقدس په امان ؤ او نه دملتونو شرف او ناموس. دغه حال دیورپ ؤ چه نن په ذهنی طور ددنیا پیشوائی کوی دخوشال خان په دغه ورځو کښې، هم دغه انګلستان چه قریباً سل کاله پس ورته دملیت داسی احساس راپیداشو چه خپله دفاع خو پریږده دخپل ملك دخرابولو دپاره ئی ددنیا دریمه برخه الواك (ښویه) تیره کړه او تر ننه دملیت په میدان کښې ورسره ددنیا هیڅ ملت همسری کولی نشی، په دی حال ؤ چه ددوی پاچا چارلس دویم ته په دی کښې هیڅ شرم نه ښکارید چه دفرانس دپاچالوئې حوارلسم نه تنخواه وخوری دغه حال دپولینډ دپاچاهانو ؤ. جرمنی په ټوټو ویشلی هره یوه برخه ئی دبل سره لکه ددشمن په جنګ وه او پر څه ځمکه ئی سویډن خېټه ور اچولی وه . دخوشال خان دمرګ نه ایله ۱۶ کاله پس ایله دپریشیا (Prassia) حکومت په دی قادر کیږی چه دجرمنی په یوه

برخه واقعي يو حکومت قايم کړي. ولي پخپله دجرمني دتاريخ ددغه لوي ءانسان فريډرك اعظم داحال ؤ چه درباري ژبه ئې فرانسوي اودفرانسوي تمدن په نقالۍ ورته ځان د روند ښکاريد، هغه فرانس چه جرمني ورسره تراوسه پورې په خړاوه ؤ دغه حال دروس ؤ دخوشال خان نه ۳٤ کاله پس دروس دتاريخ دلوي پاچا زار پيټر اعظم خپله اوددربار ژبه فرانسوي وه

مطب دا چه دغه وخت د ملت، ملي خصايلو او کلچر نوم مونږ نه په شرق کښې وينو، نه په غرب کښې يگانه آواز چه زمونږ په غوږ وراځي هغه هم ددغه خوشالخان دي چه نن ئې مونږ د نمانځنې د پاره راغونډ شوي يو هغه د ملت په نوم قبيلي او قومونه رابلي، دملت په نوم توده اوچتوي او دملي خويونو داستحکام او بقاء دپاره خپلې ملي ژبې ته خپل آرټ اوصنعت اړوي.

دافغان په ننگ مې و ويستله توره * ننگيالي دزمانې خوشال خټك يم
فارسي شعرمې هم زده سليقه لرم ددواړو * دپښتو شعرمې خوښ شي هر څوك خپل لري ښاغلي

هغه ديورپ نه قريباً سل کاله او دايشيائي قومونونه درې سوه کاله وړاندې او که دخپل وخت پښتنو هغه پيژاندلي نه وي نو گرم هم نه وو ولي راځيء چه اوس مونږ هغه ته دانساني جامعي ديو رهبر په حيث اوديوې لوړې مفکورې د مفکر اوفلسفي په حيث دعقيدت سرونه ټيټ کړو. څوك چه خوشال خان پيژني هغوي د خوشال خان د لوړ مقام نه منکريدي نه شي مثلا مشهور مستشرف (Biddulphwoking) بيدولف وو کنگ وائي.

که دخوشالخان په عقل اوفکر څوك خبرشي چه هغه دژوند مشکلې مسئلې څه رنگ په ښايسته طريقه په شعرونو کښې بيان کړي دي اودي ته هم وکتلي شي چه هغه په کومه زمانه کښې اوسيده دهغوي ژوند، خوي بوي، فکر اونظر څه ؤ او ددي نه پس خوشالخان ته وکتلي شي نو تاسو به هك حيران شيء چه داڅومره لوي انسان واو آفرين به پرې و وائيء .... که چيري دخوشال خان غوندي قابل او پوه انسان په يوبل مهذب، متمدن او روشن خيال ملت کښې پيدا شوي واي نو د حده نه به زيات لوړ مقام او درجې ته رسيدلي واي، ولي چونکه خوشال خان دبد قسمتيء نه صرف دافغانستان ديوي قبيلي ؤ او د هغه د ژوند مقصد محدود او دهغه دنيا ډېره تنگه او وړه وه نو په دغه وجه څه رنگ چه دهغه دشان سره ښائيدل هغه درجې ته ونه رسيد او نه ورته د نورو ملتونو دهغه درتبې برابر پام شو.

خوشال خان په ډيرو څيزونو کښې د خپل وخته ډير وړاندې ؤاوهيڅ عجيبه نه ده

چه هغه په خپل ژوند کښې ناکامیاب شو، تاسو گورئ مونږ نن هم دا اخلاقي جرأت نه لرو چه دنیا ته هغه مخ وښیو کوم چه په زړه پټ لرو. ولې دخوشال خان په دنیا کښې دا منافقت او تقیه نه وه. هغه دنیا ته یکی یو هغه مخ ښودلی دی کوم چه هغه درلود او هیڅ پرواه ئې نه ده کړې چه د خپل تقدس مانۍ دنورو په زړونو کښې په مکر او منافقت دروی.

زه خوخوشال کمزوری نه یم چه به ډار کړم په ښکاره نعری وهم چه خوله ئې راکړه

دهغه دشاعرۍ هغه بربنډی برخۍ چه ماورته په وړو کوالی کښې په کر که او نفرت کتل ماته اوس دتقدس نه دومره ډکې ښکاری لکه څومره چه یو عیسائی ته دپوپ خبری. په دی کښې به ستاهم فکری اوهم خیالی ممکنه ده چه نه وی ولې په دې کښې ایمانداری ده، رشتیادی، دیو حقیقت اظهار دی، او دانسانی فطری وارداتو صحیح عکاسی ده که زما اوستا جامعه لادا اخلاقی جرئت نه لری چه دزړه واردات دمشاهداتو دنیا ته رااوباسی نو دا حق خوورته بیخی حاصل نه دی چه دیو رشتونی انسان په خبرو پوزه تروه کړی. دلته هم خوشال خان داسې ښکاری لکه چه دی دشلمی صدۍ دننه یه یورپ یا امریکه کښې پیدا دی، دشرق په ۱۷ صدی کښې دخوشال خان دشخصیت هغه اړخ چه دی دنورونه بالکل جدا کوی په هغه کښې دمختلفو متضادو خویونو او خوبو راجمعه کیدل دی چه دنړۍ په کلهم تاریخ کښې به ورسره ډیر کم خلك دهمسرۍ دعوه او دسیالی جرأت کولی شی.

مثلا تاسو گورئ یو انسان به لکه دسقراط او افلاطون فلسفی وی دی به دخپلی فلسفې او مفکورې دعملی کولو دپاره همیشه دبل لاس ته گوری او هیله به کوی چه څوك پیدا شی چه دده فلسفه په دنیا کښې په هر قیمت چه وی خپره کړی یو بل انسان به لکه دسکندر یونانی بهترین جرنیل او سالار وی ولې همیشه به ئې ارسطو غوندی مفکر او سیاست دان ته ستر گې نیولی وی چه دده رهنمائی وکړی، ولې خوشال خان سپاهی او سالار، مفکر او فلسفی هرڅه پخپله دی. تاسو خو نه دهغه په څنی عمل کښې لکه دمفکر او فلسفی بی عملی لیدی شیء او نه لکه دیو سالار ددماغ او زړه دوارداتو نه نامحرومی. هغه په پښتون ملت، پښتو ژبې، پښتنی کلچر عقیده لری او ددی عقیدې دپاره پخپله خپل مفکر - پخپله خپل سالار او پخپله خپل سپاهی دی دهغه داعملی ژوند ایله دهغه په مرگ ختمیږی چه په منځ کښې هیڅ خلانه لری.

بله هیڅ لیدله نه شی په دا منځ کښې یا مغل له ملکه ورك یا پښتون خوار

تاسو به ډیر کم لیدلی وی چه یو شاعر، بت تراش او رسام دې دحسن او ښائست د تخلیق

اود گلونو اوښکلا دننداری نه باهر گام ایښی وی ولی هغه خوشال دی - چه ددی نه داستثنا دعوه کولی شی.

(اردو شعر) هزار دام سی نکلا هون ایك جنبش مین * جسی غرور هو آئی کری شکار مجهی

ترجمه: (زه دزر گونو دامونو نه په یوتوپ باهر اوځم - که څوك دښه جال گری غرور لری نورادی شی اومادې ښکار کړی)

هغه په خپل اوږ د ژوند کښی دتورو اوټوپك دباړونو، د نیزو دجالونو اوغشو ددو مره بارانونو نه وتې دی چه نن ورته انسان هك پك شی چه ده دمشهور مستشرق ر اورتی په وینا د ۲۵۰ نه زیات کتابونه او دڅلو یښت زره نه زیات شعرونه څه رنگ ولیکلی شول.

ددی فایق چمن حسن اوښکلا تاسو هله لیدی شیء چه دهغه دیوان راواخلیء او پخپله دزلفو دثنا په دام کښی ښکیل، دښو اوستر گو دغشو په ښکلی دردئی گرفتار او د ښا یسته پښو د پاولیو دشرنگ په عکاسی کښی ئې ددنیا او مافیها نه نا خبره شیء.

ددې سره سم دهغه په جنگ کښی گورې وروځی، دتورو شرنگ، دهغه او دهغه داس په مخ یاتدې دسرو وینو رودونه هم و گوریء او بیا اندازه و کړیء چه خوشال څوك ؤ.

ترا ور تك پا چا می و و یست — تا و د بند او د زندان

نقش مې کیښو دو د تو ری — په هند و په مسلمان

لا په خوب کښی په ارزه پریوځی له گټه — چه دچا ترغو ږ ز ما دتوری شرنگ شی

یا دښو ځویو سندری وی د پیغلو — یا دتورو په میدان کښی هوی ها وی

د خوشال خټك خوښی په هغه وخت وی — چه بریښنا وشی د تورو او د زغرو

دتورو په میدان کښی چه سوداوی دسرونو — هغه زمان یې گوره تل به سوروی زما آس

راځیء چه دخوشال د کېر کټر یو بل اړخ و گورو. دی دولت من دی، خان دی او دامارت سره چه دسپینو او سرو کومی وینځی کورته راځی هغه دده په کور کښی په ښه مقدار موجودې دی ددی باوجود نه په ده چری زکواة فرض شو او نه صدقه. دی مال پیدا کوی ولې دنورو دپاره. دی دولت من دی ولی نه چه دځان دپاره درحمان دشعر عملی نمونه دده په غېر بل څوك دی؟

د دلبر و صدقی لره ئې غواړم — هسې نه چه په دنیا پسې زهیر یم.

راځیء چه دخوشال دغه اخلاق چه زما ډیر خوښ دی تاسو ته دهغه دشعرونو نه لږ ووایم:

که د توری که دور کړو — هیڅ مې پری نه ښو دار مان

لکه خرڅ می د بابا ؤ — زما لا ؤ د و چندان

زرو ماته هسی خوارؤ لکه خاوری د بیابان
نه زکات په ما واجب شو په درست عمر نه قربان

دخپل ځوی اشرف خان غیبت کوی:

په ژوندون مې خپل ځای ورکړو باندې زه شوم مهربان
زرئې تول کړل په لکونو طبیلې ئې عراقیان

هم ددغه ځوی غیبت په بله وجه هم کوی

برڅلو ښت کالونه تیرشو باندې څرخ نه شو پیکان
مرصع توره ترملا کړی تېڅې ښه ښه عراقیان
نه ئې توره چېرته سره شوه نه ئې خوږشو بر گستوان

دهغه ددی متضا دو اخلاقو غمازی د ده شاعری پخلپه کوی. دی دزلفو دشبستان نه سپینو تورو ته او دسپینو تورو نه دزلفو شبستان ته یواځې په عملی ژوند کښی اوړی راوړی نه بلکه شعرئې هم دغه شان کله دیار په سپین مخ خوله لگوی او کله دتورو په څوکو غاښونه. مثلاً یوه نمونه ئی واوری:

توره چه تیرپېزی خو گذار لره کنه * زلفې چه ولول شی خو خپل یارلره کنه

دلته دی دتورو نه شروع کوی او زلفو شبستان ته ښوی اوړی. ولی بل ځای دزلفو دشبستان اودشرا بو دجامونو دکړنگاز نه یودم دتورو خرپ ته داسی دانگی چه ته به وائی ایا داهغه انسان ؤ چه اوس دستر گو په رپ کښې ماو ړاندې لیدلی ؤ گوری :-

ساقی راشه ډکې ډکې پیالې راکړه چه دمیو په مستۍ شمه سرشار
پیښتنو ځلمیو بیا لاسو نه سره کړل لکه باز منگلې سرې کړی په خپل ښکار

دخوشحال خان فلسفه دتنگ نظر تېټه فلسفه نه ده هغه چه په خپله څو مره او چت دی دغومره دهغه فلسفه هم لوړه ده.

لکه باز په لوی لوی ښکار زما نظر دی نه چه گرځی گونکټ نیسی باد خورك یم

هم ددی فلسفی نه متاثر علامه اقبال ویلی ؤ:

در دشت جنون من جبریل زبون صیدې یزدان به کمند آورای همت مردانه

داهمت مردانه دخوشال نه غیر په بل چا کښی دی په چا چه علامه اقبال سالم یو نظم لیگلی دی

چه په غو ښو ئې روز گار هغه زمری یم * نه چه ولې دوښو خوری ها منگک یم

زه نه شم ویلی چه ددی نه اوچته فلسفه او اوچت شعر به بل څوك ووائی

څو دې توان وی په رغواو بو کښې مه وه * په بیله کښی دی اجل وینم نهنگه

هم ددی شعر په الهام دده یوه نمسی کاظم خان شیدا دخپل نیکه فلسفه وړاندې بیانی او حق دی چه ددی لویی په اجازه مونږ دی کړو نسی ته قایل شو.

دصورت په ښایست څه شی بې اسبابه * په شبنم کښی کوم نهنگ شناوری کا

به هرحال دخوشال خان شخصیت دومره لوی، دهغه دښایست چمن دومره گل پوش اودهغه ژوند دومره پرآشوب اوعملی دی چه دیو مجلس لمن یادیو کتاب پاڼې د هغه هیڅ انصاف کولی نه شی. باید مونږ دخپل عجز اقرار ښه په ایما ندا ری و کړو.

دامان نگاه تنگ و گل حسن تو بسیار

گلچین بهار تو ز دامان گله دارد

لیکن زمو نږ دانتی مجلس شاید ددی دپاره نه وی اونه یکسار دی چه وی چه مونږ دې تش دمعرفی دپاره خوشال خان وستایو دهغه په یاد دې ځان وغولو واودخوشال خان بابادبې عمله قدردانو په قطار کښې دی غلی په ادب کښینو خوشال خان زمونږ نه دبل څه خواهش او تقاضا لری هغه دیو نظریې راوړونکی ؤ د کوم دعملی کولو دپاره چه هغه دخپل لوی شخیصت قربانی ور کړی ده راځی چه مونږ ددغه قربان شوی شخیصت اودپینښتون دتاریخ ددې ضایع شوی قیمتی ملغلرې دقدر شناسی دپاره هغه څه و کړو کوم چه هغه نیم کړی پریښودی ؤ اود کوم چه هغه زمونږ نه امیداو توقع لری. راځی چه د واقعاتو څرخ او دتاریخ سیلابی مخ هغه مقام ته پوره تاو کړو کوم ته چه خوشال را گرځول غوښتل. راځی چه مونږ دپښتون بابا دنورو خوبونو دتعبیر دپاره لاس وینښی شو. اوداخوب څه ؤ؟ دلویی، دپښتون د وحدت، سو کالی او قوت دپاره کار کول وچه دوی دیوملت دشا میانې لاندې راجمعه کول چه ددنیا دواقعاتو سیلاب ته دیو ځای ودریدو توان و لری.

لاله این چمن آلوده رنگ است هنوز

سپر از دست مه انداز که جنگ است هنوز

راز محمد ویش

خوشحال خان خټك

نن دتوری اودقلم، دپښتنی عقیدی اوقوی ایمان خاوند، د پښتو شعر وادب پلار خوشحال خان بابا دمړینې (۲۶۷) تلین دی، داورځ په لره برهپښتونځوا کښی مخصوصا دتوری (حریت) اوقلم دخاوندانو په نزد، دپښتنی شجاعت، اخلاق، ادب اوانسانیت له آسمان نه دیوځلاند ه ستوری انول ګڼل کیږی.

کوز اوبرپښتانه ددغې ورځی په یادونه اود(۱۷) پېړۍ دپښتنی شعروادب دقهرمان په عالی صفاتو لکه: توره اوقلم اوداسې نوروفضائلو ویاړ کوي.

زه هم دلته پخپله برخه کښې دغه ګران محفل ته دخوشحال بابا مختصره خور و ښانه سوانح، غمناك وفات او مهیج وصیت ئې سره دهغه دفضل وادب د کورنۍ له معرفۍ وړاندی کوم.

مېړنی دی چه یادیږی په سندرو یا په وېر دهرنشی هیرولی د میړانی ښه تاثیر (الفت)

خوشال خان خټك دپښتو پلار اوترټولو لوی اوخورا ښه شاعردی چه دشهباز خان زوی دیحیی خان لمسی اودملك اکوړی کړوسی و، چه د خټکو له نومیالی قوم څخه دی، خټك د پښتنو د کرلان د کرړان او بیا د مشهور نیکه څړ بن څخه یوه پښه ده - دملك اکوړی پلار ملك چنجو دمغولی اکبر باچا په عصر (۹۶۳ - ۱۰۱۴ هـ) کښی په پښتواله مشهورو، ددهروی ملك اکوړی دپښتنو ملی مشرو، اوا کوړه ئې ودانه کړه چه سرای ئې هم ولی چه په ډیلی کښی جهانګیر مغولی په ۱۰۱۴ هـ کال پاچاشو هغه وخت دپښتنو مشر شهباز خان و، چه په اکوړه کښی دربیع الثانی په میاشت (۱۰۲۲ هـ-۱۶۱۳ ع) دعمر پردوه ویشتم کال ئی یوزوی وزیږیداونوئې خوشحال پرې کښېښود، دا پښتون وروسته یوملی ننګیالی مشر اودپښتوژبې ترټولو لوړاونومیالی ادیب وخوت.

دخوشحال خان پلار به ۱۰۵۰ هـ کال چه عمرئې ۵۰ کاله و، په یوجنګ کښې ټپی دشوال المکرم په اول دپنجشنبې په ورځ وفات شو، دپلار تروفات وروسته خوشحال خان دقوم په مشرۍ اوخانۍ وټاکل شو اوشاهجهان دډیلی پاچاهم په مشر توب اوخانۍ ومانه - خوشحال خان دمغلولو په دربار کښې ډېرنفوذ اواقتدار درلود، داجمیر په جنګ کښی چه دتار اګډ هـ کوټ چانه شو نیولای توریالی خوشحال خان دا کوټ مات کړ اوپه لاهور کښې دڅلور ولکو روپو، اودوه نیم لکه پټی خاوندشو. خوشحال خان په دی ډول

دقوم استقلال او آزادی وساتله او دمغولو له غلامۍ نه ئې پښتانه بچ کړه. خو تر شاهجهان وروسته چه اورنګ زیب عالمګیر په ۱۰۶۹ کښې پا چاشو نو ئې و غوښتل چه د پښتنو آزادی سلبه کړی او دوی خپل مریان کړی، ځکه چه خوشحال خان د شاهجهان په دربار کښې ډېر نفوذ درلود او پښتنو پخپل مشرتوب منلی و، اورنګ زیب وغوښته چه د پښتنو داملی مشر له منځه یوسی، په دی چه په توره او قوه ئې نشوما تو لای حیله او بهانه ئې وړاندې کړه په احترام او غوړه ژبه ئې خپل دربار ته وباله. خوشحال خان چه پېښور ته ورسید، دهغه ځای حاکم دمغولو د دربار په لمسون بندی کړ او ډیلی ته ئې ولیږه - د (۱۰۷۴ هـ) کال دروژی دمیاشتې په نیمائی کښې داز مونږ ملی توریالی ادیب ډیلی ته و رسید او څلور کاله هلته په بند کښې پاته شو. خوشحال خان دخپل حبس جریان په (۲۲۰) بیتو کښې شرح کړی دی او نور ئې هم ډېر خوازه اشعار دخپل ګران وطن په یاد ویلی دی.

په بند کښې دخپل وطن یاران داسې یادوی:

دهیواد یاران مې هرزمان یاد یږی

چه ئې مخ په خوب کښې وو ینم وو یاړم

څلور کاله پس خوشحال خان له بند نه خلاص شو، مګر د نظر بند په ډول به هره ورځ د ډیلی دربار ته ورته یعنی وطن ته د تلو اجازه ئې نه درلوده نو د ده آزاد روح له دی قیود و نه زښت زیات منزجر وه لکه چه داسې ئې عندی، (٤ درجب ۱۰۷۷ هـ)

هره ورځ ورتله دربار ته — کوره دا څه مشقت دی

دبل حکم پرې زندان شی — چه پر خپل حکم عادت دی

نه شیرین خوازه یاران شته — نه د چا سره صحبت دی

خوشحال خان په پای کښې له اګری نه فرصت و موندا و بیرته وطن ته راغی په وطن کښې ئې له اورنګ زیب سره سخت سخت جنګونه و کړه او خپله ینه ئې پرې یخه کړه، دی جنګونو دوه کاله پر له پسې دوام و کړ دمغولو حکومت چه په زور او فشار کامیاب نه شو نو د پښتنو داستقلال دمحو کولو دپاره ئې په نورو لارو کښې ډېری پیسې خرڅې کړی څو ئې چه د خوشحال په کورنۍ کښې د نفاق درز واچاو، دا نو هاغه وخت دی چه خوشحال بابا د (۷۷) کالو په عمر کښې قدم وهی او پوره بوډا دی، د دغسی نا اشنا پېښو په اثر ولاړ دا پریدو په غره کښې دېره شو د قلم او کتاب ملګرتیا ئې غوره کړه.

لکه چه په زندان کښې ئې هم دغه پیش ګوئی کړې وه:

پس له بنده دی دا عزم — دخوشحال د خاطر جزم

یا نیو لی مخ مکی ته — یا مغولو سره رزم

یا یو کونج دغره نیولی — لمونځ روژه لودستو بزم

خوشحال خان یو سیاح او گرځند سړی هم و، په (۱۰۸۰ هـ) کښی ئې کابل ته هم پېښه کړی دد لکه چه پخپله دخپلو سیاحتونو ستاینه داشان کوی :

کوم ملك دی له ما یا توچه مې پل نه دې پرې ایښی

هر ځای به ورته یاد کړم که څوك شته سیاحت کړونې

خوشحال خان یو عالم سړی و، شرقی علوم ئی لوسې، دعربی او پاړسو دبلاغت او فصاحت علوم ئې ښه زده و، په فقه او تفسیر او نورو اسلامی علومو کښی ئې هم معلومات در لو ده په تصوف کښې هم خوشحال خان مکمل و، لکه چه دده له وینا نه دده پوره علمی لیاقت څر گندیږی

تر خوشحال خان دمخه په پښتو عروضی اشعارو کښی ډیر لږ شاعران تیر شویدی، داویل کیدی شی چه «خان» دپښتو دشعر پلار دې ځکه چه ده تر هر چا ډیر او ډول ډول شعرونه ویلی دی- خوشحال خان دپښتو ادب دیوه مهم مکتب موسس دې چه وروسته په دې مکتب کښې ډیر نومیالی شعرأ روزل شویدی او دده دسبك پیروان ډیر دی .

خپلواکی او میړانه ئی:

خوشحال خان دیو ملی مشر او قائد په ډول دپښتنو دخپلواکۍ دساتنې دپاره ډیرې جگړې کړی دی، دده دبندیخانې نه دراخلاصدو سره سم دمغولو دلښکرو په کلمو کښې او به نه دی تودی شوی ده په (۱۸۶ هـ) کښی یوه داسې قصیده ویلې ده چه دپښتنو مجاهدینو دوینو دگرمۍ په وجه ئې دتهتر په جگړه کښی (۴۰) زره معول ځای په ځای له منځه یووړل بیائی دمیر حسینی او نوښار، گنداب او خاپښ په لویو جگړو کی هم مغولو ته دخپلی توری ښه شرنگ ورښودلی دی،

آثار او تالیفات ئې :

خوشحال خان دپښتو ژبی پلار دی، ده په ملی ژبه ډیر آثار لیکلی دې دارو پا مستشرقین دده تالیفات سل جلده ښئی -خوستر راورتی ئی (۲۵۰) جلده بولی مگر افسوس چه دغه بسی بها آثار او کتب اوس ورك دی کوم چه له هغه مونږ ته په نامه معلوم دی هغه دا دی:

۱- دپښتو اشعارو کلیات تر (۴۰) زره بیته چه په ۱۳۱۷ هـ ش کښی دقندهار مطبعی طبع کړی دی، علاوه له دی خوشحال خان به پاړسو هم ډیر اشعار ویلی دی او روحی یا کوهی تخلص لرې .

۲- دپښتو تاریخ چه نسخی ئې ورکی دی.

۳- عیار دانش دپاړسې انوار سهیلی. (پاته په دریمه پشتۍ کښی)

«بلې صاحب» دې په سرووهه! چیرې دې همداډول ترتیب نیولی دې.
هغه سپین سری ښځې نه وینې؟ او په خوا کښې ئې هغه سپین ږیری نه گورې؟
شل پلامې درته ویلی دی چه داخو خیرات خانه نه ده فابریکه ده. دلته باید
ډیر ښه کار کوونکی راشی چه کار وکړی نه دا چه سپین ساری و سپین
ږیری او شل ؤ شوټ راولې او دفابریکې پیسې ورکوی. نه گورې چه فابریکه
نظر دنورو موسساتو گټوته په نقص کښې ده. هرڅوك خپلو شریکانو ته
تر ۳۰ ـ ٤۰ په سل کښې کمه گټه نه ورکوی. خومونږ چه ډیر مړونه
شو نو تر ۲۰ ـ ۲۲ په سل کن اضافه نه شو گټلای.
«بلې صاحب» تاسی ښه وایاست. ستاسی خبره سره زرده تاسی مور پلار یاست.
داهغه سپین سرې ښځی دی چه څو ورځی د مخه مو ځواب ورکړ خود
فابریکی د مخه ئی بغاری ؤ چغاری وهلې او نژ دی ؤ چه دفابریکی ټول
کاریگران راته بدوړده کړی. نو بیا «حاجی صاحب» امر وکړ چه په کار
کښې ئې واخلی او ژر ئی دنورو کار کوونکو له ستر گو نهامی کړیء.
تراوسه پوری په کار اخته دی، زمونږ په دی کښې څه قصور نشته».
ده غړومب وهل او بی له دې چه نور څه ووائی مخامخ دماشینانو خونوته
ننوت او هلته پر ماشینانو وگرځیده، دماشینانو دهری برجی باشې دماشین په
خصوص کښې څه ور ته وائې. دماشینانو د ټکهار په اثر هره پلاباشی دده په
غوږ کښې په زوره خبرې کوی. دادوره ئې. په یو ساعت کښې وکړه. او بیا
دباندې راووت.
په دې وخت کښې دوه درې کسو کار کوونکو چه جامې ئې ټولې په تیلو غوړې وې

اوجامې ئې لاڅه چه خولۍ ئې دډېر غوړوالې له لاسه تکې توري اوښتې وې
يو خط دمعاون صاحب په لاس کښې کښېښود. معاون صاحب. چه خط ته وکتل
هغه ئې په لاس کښې ومروړه اود يوه کارګر په مخ ئې ور وغور ځاوه او په
تر يو تندي ئې له ځانه سره وويل:

«ځيء ورک شيء» خداي موخوار کړه، والله چه ټوله نړۍ مړه اوپټه شي که
تاسي کارګران خوماړه شيء، هره ورځ ستاسې يو جنجال وي، کله تنخواه
ډېره غواړيء او کله بيا دريشي غواړيء. سړي موپه کومه خوايسي ورسيږي.
دغو نه دفابريکې عائدات نوي لکه چه پر تاسې باندي ئې چه خرڅوو. ځيء ورک شي
خپل کار کوي. دريا ست مقام داخبري او اوچټيات نه شي ارويدلاي، که چيري
مونږ په خپله دالازمه وګڼله الته ستاسي د دريشيو په باره کښې به غور
وشي، دوړيو دمنځلو حوض ته چه رانژدي شو بيا ئې يوه مامور ته مخ راواړاوه
او په يو معتدل ږغ ئې ورته وويل:

«څرنګه چه ما درته وويل هغسې وکړيء. د کار خلک پريږدي او دا نور وته چه
خپله مزدوري نشي ګڼلاي په يوه داسې ترتيب سره ځواب ورکړيء
چه دا نور مزدوران پري يوه نشي. تا چه دا دومره عټه خولې په سر کړي ده او دا نا يوه
خلك تر ځان نه شي تېر ولاي نو ستا کمال څه دي؟ يه! ورو ره علت ئې
معلوم دي. که فابريکه ستاواي او يا دي يوه برخه په کښې درلوداي نو هله به
تالبدلي واي چه په څه ډول دي دغه ماتؤ ګو ډمز دوران ځنې شړلاي.
او س خو دې دومره زړه به سو ځي ځکه چه وازمائي په څه»

يو ساعت ور وسته ئې دغرمې توپ وويشت او ټول مزدوران د ډوډۍ

خوږو په نامه له کارو څخه راووتل خو ډیر ئې په لمانځه پسې ولاړل او څوك هم سیوری او ځینې لاولمرته وغزیدل. ځینو، ځینو کوله ډوډۍ له خپلو ملاؤ څخه راخلاصه کړه او دولې په غاړه ئې په خوږلو پیل وکړ.

«بنګ» و «دوران» ته وویل چه: «راځه نو کې ډوډۍ رانیسو او ژر ژر ئې وخورو. بیا به د ننه ماشینانو ته ورشو چه هغه وګورو او هم ئې کارکونکی وینو چه دا لاڅه ډول خلك دي».

دوی دواړه له فابریکې څخه راووتل او وروسته تر تلاشی ورکولو ئې په بیړه یو څه مړۍ رانیوله او هم ئې لږ څه پیاز ورسره وا خیستل دا ځکه چه دوی دواړه خوښ ؤ چه نن بیکاره نه شو پاتې او کار ئې موندهکړ. په داسې حال کښې چه هر یوه خپله ډوډۍ په تخرګ کښې نیولی وه او پیاز ئې په لاس کښې ؤ خوړلې ئې دماشین کارانو خواته راغلل.

لومړی یو چار اوګرځول چه د ننه د ماشینانو ځای ته مه ځی. خو «دوران» ورته زارۍ وکړې چه دغه ملګری مې تر اوسه پورې دغه شیان نه دی لیدلی باید وئې ګوری. هغه تندی تر یو کړ او ورته وئې ویل: «ځیء، ننوزی. خو ژر بیرته راووزیء. ځکه که د ماشینانو مدیر ولیدلاست یقیناً به مو ډیر وډیوی».

د ننه ګوری چه ماشین کارانو شنه، شنه بالا پوشونه اغوستی دی پنځلس یا شل، شل کسه سره ناست دی او ډوډۍ خوری د چایو

چا ئنکې هم ورته پرتې دی او هر څوك په خپله پیاله یا گیلاس کښې
چای ورتو یوی او له ډوډۍ سره ئې خوری. د ډوډۍ د خوړلو په وخت
کښې هم خوراتو دې خبرې سره کوی، ځینې قسمونه خوری چه که
خو بیا کار را باندی وکړی او ځینی وای چه هر څو چه په قهر شیء هم والله
دریشۍ خو به را نوې نه کړی، څوك خاندی، څوك متأثر دی. یوه کاریگر
زغ کړه: «اوه! دا بنۍ والا صحرائیان چا دلته را پریښې دی؟» یوه بل
«بنگ» ته وویل: «اوه صحرائی! نه ماشین کار کیږی؟ راشه شاگرد
دې کړم. په لږه موده کښې به ښه ماشین کار شې».
یوه باشی پر زغ کړه: «وزی! او صحرائیانو! کوم شی به ورك شی بیا به ئې
په غم کښې پاتې یاست» «بنگ» ته د کار کوونکو دې فعال ژوند خورا
خوند ورکړ. په تیره بیا دا چه ټول سره ریشی. هیڅوك ارام اولټ او یا
غیر مربوط نه بریښې. هر څوك یو څه وای او هر څوك یو څه کوی. دا ډول
نه دی لکه نور مزدوران او بزگران چه یو له بل سره نژدې نه بریښی.

دوی دواړه په منډه له هغه ځایه راووتل او هغه ځای ته بېرته راغلل چه هلته
دوی ناست وو او وړۍ ئې مینځلې. بنگ ددې ماشینانو او ماشینکارانو
په لېدو خورا خوښ شوی و او له ډېرې خوشالۍ ئې زړه غور ځېده وویل:
«دورانه وروره والله دا خو عجب شیان وو او عجب خلك وو. لکه
چه خورا زورو هم دې ځکه چه په وازه خوله ئې دفابریکی څښتن ته څه

کنجاوې نه ویلې، والله که زه ماشین کاروای چه خپل ماشین خومی داسی ساتلای لکه دلاندی مږ »

په دې وخت کښې یو ده باشی «بنګ» او «دوران» ته زغ کړل چه ولاړ شی دفابریکی په خوله کښی وړی تلل کیږی هلته په تول کښی کومک وکړی دوی دواړه او چته راولاړ شول په تېره «بنګ» خو په دی ډیر خوښ شو چه دناستی له کاره څخه ئی دولاړې په کار اچوی .

خورا لوی ترازو ولاړ دی او وړی په تللی کیږی . دوړیو څښتنان ترازو ته خورا نژدی ولاړ دی کله دتلی یوې خواته وګوری او بیا بلی خواته او بیا پورته شاهین ته ګوری . خو که هر څومره ناری کړی چه دا تول صحیح نه دی او ترازو باید پرځای ودرول شی څوك غوږ نه په باسی .

ترازو دا رخورا پوچ خولی سړی دی او بی له کوم دلیل او ضرورته په قسمو پیل وکړی چه ده هېڅکله په ترازو کښی څوك نه دی دروهلی . په دی چه پلار ئی لا دلویو لویو سوداګرو دوړیو ترازو داری کوله خورا افتخار کوی هر پونده خورا ښه پیژنی . چه مازی دپلار نوم ور واخلی دی ئې دنیکه کړه ورته بیان کړی

سره له دی پوچې خولې بیا هم دپونده وزړه ته تیر دی . او وروسته له هغه چه دیو سړی وړی وروتلی نو هغه بیا یو شی ور کړی ده . د دې شی ور کولو نوم «رواج» ایښی مثلا که چا لږ څه سستې وکړه او یا ده دهغه له بڼې څخه معلومه کړه چه څه نه ور کوی او یائې راتلونکی وخت ښې کنه ورته راوړی نو دی ښه جدی غوندی ورته ووائې «کاکو» زموږ رواج دې لکه چه ترګو تونه را تېر ېږی .

که چارواج ورته کړ هغه سړی ئی تر ډېره وخته پوری نه هېرېږی او حتما که ډېره موده وروسته بیا ورته راشی دی ورته وائی: «ومی پېژندی! هغه ځوان ئی چه زما «رواج» دی نه وورا کړی.»

البته دداسی خلکو وړی په دقت تای او کله کله خوئې ځینی «ور گونه» خلاص کړی او تك ئی وهی او بیائی دتلی منځ ته وړو غور ځوی.

«بنك» په خوراجدیت سره خپله غیږ په «ور گو» ډکه کړی او یوی خوا ته ئی غور ځوی؛ دی دا کار د کار له خاطره نه بلکه شوق ئې شوی او پر هغه باندی خوند اخلی.

یواریو ار ترازودار ورته ووائې: «پرمټودې برکت شه! کار چه دغسی وی. لکه دغه هلك چه ئې کوی، مزدوری چه اخلې هغه دې روزی شه دا نور لټان باید ودغه هلك ته وگوری او د کار گولو طرزله ده څخه زده کړی بیا.... «یاره که زما واکوای نوماخو به ستا مزدوری یو په دوه در کړی وای. خو څه وکړو، په دی ملك کښې څوك زحمت اوښه کار ته په درنه ستر که نه گوری که نه وی تا نه خو به ئی هرومرو څه انعام در کولای، هله خیر یوسی! تاسی هم دغه راز همت وکړی لکه دغه هلکی ئې چه کوی!»

په دې حال کښې د مزدورا نو عمومی نگران تیریدی او دوړ یو ترازو دار پر زغ کړ:-

«صاحبه که یو څه عرض درته وکړم په قهر کیږی خو به نه؟ که فابریکی دغه ډول لکه دعه (بنك ته اشاره) ځوان یو لس کسه مونده کړل ددې فابریکی کارو بار به خوراښه سرونیسی او د کارو دبیر ته پاته کېدو هیچ شکایت به پاته نشی!»

نگران بنک ته و کتل :

«آهو نو! دی به ولی ښه او زور ور کار نه کوی، خو نوی زنی دی، زه چه دده پرحال وم غرونه می اړول. زه به ئې سفارش و کړم چه یو ښه کار به دې ځای کښی ورته ور کړی رشتیاده چه فابریکه خودغسی مزدورانو ته چه د مټو زور ئې ډېر وی خورا احتیاج لری او هغوی باید به هره تو که چه وی لاس ته راوړل شی»

«دوران» دخپل ملګری «بنګ» به دی حرکت خور اخوا شینی شو او هغه ئی دده دناپوهۍ علامه و بلله. دوران ورته وویل!

«هلکه خورا ژر ډیر باټ اخلی، که دې څوك وستائې ځان ترپاڼ غورځوی څه ځان خو دې ندی در باندی بارچه دادومره په صداقت او دزړه له اخلاصه ښوری او کار کوی، څه ګټه در ته لری او څوک به در ته ووائې چه ها، تا ښه کار کړی دی نو ولی خو شی چټی په چټی دځان قوت ضائع کوی او دخلکو دپاره درانده پېټی وړی تا دلته کار کوونکی په نس ماړه لیدلی دی. خو هر څه چه ګټی هغه نور ځنې څټی، دوی ته دو مره ور کوی چه نه په مری او نه په پای».

یوه ګړۍ وروسته ئې بیا و ویل، پرو سبز کال مونږ دلته کار کاوی او دوړ یو خورا لوی لوی وری مو یوې خوا بلی خوا ته اړول زما یو بل ملګری ؤ چه هغه هم خورا غښتلی او راستمن سړی ؤ د هغه خوارکې او زه و ختله او خورا ډیر په تکلیف او زحمت کښی ؤ نه ئی غیران و ګاته او نه ئې کسیره ولیده خوارکی بیرته کورته پر پښو تش لاسونه دپونده و له کډوسره ولاړ. زما پخپله لاس له مړوند وخوت او پر خورا ډیرو ماجتا نو او ښو خلکو و ګرځیدم چه رادم ئی کړی په پای کښی یو پنډی په څه خوار یو بیرته کړپ سره واچاو.

اوپه کراره کراره ښه شوم، له هغه را ایسی می دا ترزړه ایستلې وه چه بیا چیر ته داسی قدم نه اخلم چه ځان وزوروم . »

یوه بل مزدور پر رازع کړه:

« څه سره زرخونه را کوې چه داسی زورور کارونه و کړو دا مزدوری چه را کوی داخو په مټې زمونږ دنس دپاره سپوره ډوډۍ نه کیږی. خو که خدای نا کرده کوم ځای مو عیبی شی نو څوك به مو او ښکې را پاکې کړی، دا دفابریکې خاوندان، یه، یه، مالیدلی دی، دوی ته دمزدور مرګ او ژوند دیوې یکۍ غوندی اهمیت نه لری خو که دوی ته لږ څه تاوان ورواو ښت نو غلبلې ئی تر اسما نه تیری شی . »

ددی ټول کار په وخت کښی د (بنګ په فکر او خیال کښی دماشینکارانو او نورو تخنیکی مزدورا نو شنې اوغوړ، چنی کرتۍ له نظره دورې، دورې ګرځېدې او دوی ئی خوراښه خوښ شوی و په تېره ددوی فعال ژوند دته خورا خوندور کړی ؤ. « دورانه وروره، راځه چه دواړه په یو چل ځانو نه په هغه مزدورا نو کښې سیهه کړو کوم چه دماشینا نو کار کوی »

« داخو دومره ګرانه خبره نه بریښې که دی رښتیا زړه ورته شوی وی نو زه به زمونږ وطن دار ته چه دلته لږ څه اعتبار لری ووایم او هغه ګوندی مرسته در سره و کړی او په دغه ځای کښې دی ور ګډ کړی »

ماښام دواړه هغه ځای ته ولاړل چیرې چه د « دوران » ورور پروت و. یوه له خلیفګانو څخه پوښتنه و کړه دغه بل دی څوك راوستی، اخلاص منه دی که یه؟ هغه ورته و و یل چه دا زمونږ دسیمې هلك دی او نن ئې زما سره یو ځای کار کاوه، څه شی نه لری چه په لنګر کښې ئې واچوی » خلیفه ورته وویل :

'خدای دې خوار کړه! رښتیا چه ښه ئې ویلی دی: '«موږك په غار نه شو ننو لای ده جارو ځان پوری هم وتاړه» داغواړې چه سبا دې ورور هم درو باسم. زمانه خرابه شویده! په خو اخلکو توله ورځ مزدوری کوله او یا هره لو به چه ئې کوله یو پنځه پیسې به ئې د «دربار» په لنګر کښې اچولې. اوس خلک داسې سپین سترګې شوی دی چه د... مبارک» دربار او جیب ته ئې لاسترګې نیولی دی او غواړی چه له هغه څخه لا ګټه واخلی. توبه' توبه خدایه'' پوبل ملنګ نماسړی ورته راږغ کړه:

«صاحبه! ته ښه وائې' اوس زمانه بیخی اوښتې ده. په خواه به د پیرو فقیر قدرؤ. هرچا به په درنه سترګه راته کتل. داز ماله زبانه کوه چه: «د لته د «مبارك» په دربار کښې به دیوې عوائې حلا لیدل او خو را ډیر خلك به د «حلقی» دپاره راغو نډیذل، چای به مو په دیګو کښې یشولې په وریجو او غښو به سپی لاماړه وو خو اوس 'لکه تاسی چه وویل. خلکو د پیرانو او فقیرانو جیبو ته سترګی نیولی دی. که یو چا ته د مرستې دپاره ووایو هغه په پوزه کښې ځواب را کړی. د الا څه کوی چه ځینې خولا د خلکو لوږه. بربنډوالی او بېکاری له مونږ څخه انګیری او مونږ ته د لټانو د جوړولو فابریکه وای او داسې فکر کوی چه د اخلك مونږ له کاره ایستلی دی او زمونږ د دوی په غوښو کذاره ده. توبه خدایه؟ ستاله قهره موو ساتی»

«دوران' او بنګ سبا سهار په سپېدو کښې له هغه ځای څخه راولاړ شول او مخ په کار راغلل. دلته مزدوران سهار خړلمانځه مهال لا په کار پیل کوی. دوی دواړه په کار بوخت شول' دوران په خپل وطن دارپسې ګوری او هرې خوا ته څار کوی چه که ئې په سترګو شونو سمدلاسه به د «بنګ» په خصوص کښې

ورسره خبرې وکړی. په دغه حال کښې ئې هغه ولید او سمدلاسه ورغی او په مینه ئې زو غېرور سره وکړ او بیائې په ډېر عجز او احترام ورته وویل:

«دلته زمونږ ؤستاسی دسیمې یو هلک دی. خوراښه پیاوړی او په توره غوښه پټ هلک دی. دده ډېرزړه غواړی چه دماشینکارانو د شاګردانو په ډله کښې شامل شی او په هغه شق کښې یو څه زده کړی».

هغه خپل تندی په دواړو ګرتو کښې ونیو او ورو سته دیو څه چرت و هلونه ئې ورته وویل:

«داخو بیخی نابلده هلکی ښکاری. خو سره له هغه زه به ورته کوشش وکړم. خو په یوه شرط! هغه داچه وطن داری دی هم په منځ کښې وی خو یو څه «شیرینی» به هم راکوی ځکه چه زه هم په نورو خپړی لګوم او یو ازی زما په واک کښې نه ده».

د «بنګ» سا په دې وخت کښې لنډه لنډه کېدله او په خورابې صبرۍ دده «هو کې» ته انتظار درلود او ورته وې ویل:

«شرینی» به در کړو خو دومره چه زمونږ له وسه وشی. «مثلا څو مره شرینی؟»

هغه ورته وویل: «دد وو هغتو تنخواه»

«یه! دیوې هغتې»

زور ور هلک ئې؛ او بل داچه ددې وطن دار له وطن دارۍ هم نه شم او ښتلای ځکه چه په وطن کښې ئې هر سهار کوروینم او هر ماښام ئې اورا. ښه دی ته بیا غرمه له ما څخه احوال واخله. کوندې یو څه مې کړوی. زما کوټه هاغه مخامخ ده».

د «بنګ» له ښو طالعو هغه سړی دلسو بجو په شاو خوا کښې یو سړی ورته

راواستاوه او «بنگ» ئې هلته وروو ست، اوسم دلاسه په دې خبر شو چه دی دیوه ماشین کاریه زیرستی باندې منل شوی دی. بنگ له دېرې خوشالۍ کوتی ترنگولې او په بیړه یوه مزرانه ورغی چه دماشینو په شق کښې د شمول دپاره یو در خواست ور ولیکي، هغه ددې کارد کولو اجرت بو غران ځنې وغوښت. یوه بل سړی «بنگ» ته وویل: «دېرې لوړی طالع دې دی. که څه هم دماشینکار زیر دستان تنخواه ابزاری خوتل ئې لری. ستا مزدوری به هره ورځ، نه، بلکه هره میاشت در کوی. که ته نشی غیر حاضر نو څوك تا نه غیر حاضروی او نه دادرته وای «ورځه ښ کار نه لرو!»

هغه ماشینکار چه «بنگ» ئې زیر دست شو خورا جگ اود د پر شو کالو په شاوخوا کښې یوزلمی دی. ښکلی دی خو په مخ کښې ئې وینه نه ښگاری یعنی ژړ بخن غوندی ښکاری. لوړه پوزه ئې ده. او پراخ تندی لری. ستر گی ئې ځرځی دی. په کیڼ بارخو باندی ئې دتپ نښه ده خورا او چته غوندې ښکاری.

«بنگ دمقرراتو سره سم داجرائي له دفتر څخه دماشینکار به نامه یوه رقعه وروره چه هغه ئې ورښکاره کړه نو هغه به داسې حال کښې چه پراوږو ئې تیاوه ورته وویل:

«ښه راغلی! هیله ده چه یو وخت ښه میخانیك شی!»

به دی وخت کښې خو دنورو ماشینانو شاگردان هم راغلل او په ځیر ځیر ئې «بنگ» ته کتل. یوه ورځنې یو ښتنه وکړه چه آیا کله دې ماشین لید لی دی او که یه؟!»

هغه هم سر ورته وښو راوه. او هم ئې په ژبه ورته وویل: «یه!»

یوه شاگرد وبل ته وویل :

« بڼه خوئی دزمری ده! که ئی زړه هم دزمری ؤنو به خوراښه وی »

« بنگ » ولیدل چه نن ښیا کار کوونکی کښته پورته کېږی او ټول نا ارامه غوندی برېښی. دده خلیفه له یوه بل سره خواله کوی او تر ډېرو پوری ئی ورسره خبرې وکړی. ددوی خبری دماشینانو په درب ؤدروب کښی نه بنگ ارو ېدلای شی او نه ئې بل څوك نه څوك ددوی دخبرو اروېدلو کوشش کوی .

دغرمې په ۱۲ بجو چه خلك دډوډۍ دپاره رخصت شول نو « بنگ » له خپل خلیفه څخه اجازه واخیستله او دباندې ددوران دلېدلو دپاره راووت . بیادی او دوران دواړه دباندی سره ولاړل او بنگ هېڅ داسی الفاظ نه شوموندلای چه په هغه دوران ته ددې کومك په مقابل کښې کورودانی ووائی صرف دو نه ئی ورته وویل : « ملگریه! زه خودی رانیولسم. خدای دې عمر راکړی چه داښه دې درو گرځوم بیائی ورته وویل :

« نن غرمه زما میلمه ئی! او زما دنوی کار په مناسبت نمواړم چه لنده ډوډی درباندی وخورم » په خپله هم زړخوږی شوی یم. له هغه ورځ چه د(کاڼی) څخه رابیل شوی یم بیامې « لنده ډوډی نه ده خوړلې نن هرڅه راسره ښائې »

دوی دواړه راغلل او په یوه سموار رانوتل سماوارچی چه ددوی بڼی ته وکتل نوئی ورته وویل:

« که څه هم شکردی ټول سره پښتانه یو خودلته هېڅکله داسې کسان چه سوداگر او ماړه وی نه راځی او تل دلته خواران او مزدوران راځی دازمونږ قاعده ده چه له هرچا څخه یو څه پیسی پېشکی اخلونو ښه ده چه تاسی هم یو څه پیسی پیشکی راکړی ء او هرشی چه مووخوړ په هغه کښې به ئی درمجراء کړم

بنگ دواره دلسو افغانیو نوټ ورکړ او بیا ورغلل په یو کونج کښې دواړه چارزانو کښېناستل .

دوی د چاینکی غوښه راوغوښتله اوهم ئی غلمینه ډوډۍ ورسره وخوړله او په خورا شوق اوبیړه بیرته خپلو کاروته راغلل. د ده خلیفه دالته له خپلو نورو ملګرو سره انډیوالی لری او وروسته تر ډوډۍ د تازه تنفس کولو دپاره دباندې وتلی ؤ . «بنگ» په بیړه له یوه بل شاګرد څخه دده دنوم پوښتنه وکړه . هغه ورته وویل : «میرجان نومېږی خورا تکړه سړی دی په خپل کار کښې یوه دی اوډېر خواری کښ هم دی. زړه سوی هم ډېرلری له هر کار کوونکی سره ئې والله ستر ګې لوېږی» .

* * *

«بنگ» دوې بشپړې میاشتې په همدغه ځای کښې تېرې کړلې . خورا رغدی شوی دی. له لس، پنځلسو شپو را ایسته له یوه میرزا څخه سبق هم لولی . دی خورا ځیرك دی او سبق ئې ښه زده کېږی اوهم ئې بیا په خپله ښه زده کوی . کوم وخت چه د ماشین له پاکولو څخه بې غمه شی نوسمدلاسه بې له دې چه وخت په غزلو ویلو او خوشې خبرو تېر کړی. په خپل کتاب بوخت وی. خلیفه خورا ځنې راضی دی او تل و «نګران» نه وائی چه ددې هلك تنخواه ورډېره کړله شی اوهم ځکه چه د ښه استعداد څښتن دی د سبق ویلو موقع ورکړله شی .

«بنگ» اوس د دې په ځای چه په ماجتانو کښې بیده شی او یا لیری کلیوته ولاړ شی له نورو څوتنو شاګردانو سره ئې په یوه سرای کښې کوټه نیولی ده چه د میاشتی پنځه افغانۍ ده ته دهغې د کریهی له درکه ورووځی .

دده ژوند تر پخوا د ېرمرتب شوی دی، عزم ئی خورا ټینګ شوی دی. دی په خپله خپل ځان بدل شوی غوندې احساسوی. او هم ئې روحیات خوړا لوړ شوی دی. ده په دې تقریباً ۲ میاشتو کار کښې دیوی ورځې تنخوا بایلودله.

له دې کبله چه ده د یوې ورځې تنخوا ناحقه له لاسه ایستلې ده، «دوران» د همدردۍ د ښکاره کولو دپاره ده ته یو سست غوندې منت هم وکړ او ورته وې ویل: «چه مونږ ؤ تاسی خو غریب خلك یو باید له خپلې کمبلې سره پښې وغزوو. ته باید هیڅ وخت غیرحاضر نه شی او تل خپل کار ته درومې. د ښار ژوند خو پېچلې غوندې دی. ډېر احتیاط په کار دی په تېره تا غوندې زلمیان خو باید په ډېر احتیاط قدم کښېږدی که نه وی هرڅه چه دی ګټلی وی ټول به یوه پلادرڅخه ولاړ شی»

«بنګ» له دې نه چه دده په زیان ئې زړه خوږېږی ده ته ئې کور ودانی ووایه او هغه ئې د ښه او نېکمرغه ملګری یوه ښه نښه وګڼله. بیا ئی په ډېره خوږه او د ملګرۍ په لهجه ورته و ویل:

«وروره! تا نه دی اورېدلی چه دجهان غم نه غم دی داد یوی ورځی تنخوا. خو می ځکه بایلودله چه کار ګرانو دخپلو کالو دپاره عریضه کړی وه چه دوی ته دی دڅښتن له خوا دژمی کالی ور کړل شی خو څښتن داخبره ښه نه ومنله او هغه ئی له خپلې ګټی او خپل اصول سره مخالفه وګڼله بیا ټول کار کوونکی که ئی لوی کار په لاس کښی ؤ او که کوچنی ټول په یوه پلاله کار خانی څخه راووتلو او کار بیخی وچ ودرید دفابریکی څښتنانو چه داوضعیت ولید سمدلاسه وارخطا شول او یو څو کسه ئی له مونږ څخه ور وغوښتل او بی درنګه ئی زمونږ غوښتنی ومنلی او دټولو دپاره ئی کالی راجوړ کړل چه

دغه دی اوس ئی ته پخپله وینی» «بنگ» لږ څه ساواچوله او وروسته له هغه چه دماشین په تیلو غوړه خولۍ ئی په تندی سمه کړه وویل:

«زما خلیفه خو را تکړه سړی دی په فیل نه دی بند ده په دی معامله کښی لوی او لومړی لاس در لود نو تا ته خوښکاره ده چه ځینی بد طینته خلك هر هر چیری مونده کیږی یو چا دفابریکی څښتنانو ته اطلاع ورو رسولی وه چه دغه ماشین کار په دی کار کښی ډیره برخه اخستی وه او د کار کوونکو د حق اخستلو دپاره ئی ډیر زیار ایستلی ؤ نو ځکه ئی پرده او څو کسو نورو دیوی یوی ورځی تنخواناغه کښیښودله ځکه چه زه ئی دده شاگرد بللم نو ځکه ئی له ما څخه هم دیوی ورځی معاش دناغې په ډول واخیست پروا نه لری دغسی پیښی خو پیښیږی».

«دوران» په داسی حال کښی چه یو موټی وړی ئی په او بو کښی دمینځلو دپاره غوټه کوله وویل: «که ستا پر ځای زه وای ما به له سرې په دی خبرو کښی گډون نه وای کړی او په یوه کونج کښی به می په سر لاس نیولی ؤ او په چا به می غرض نه درلود اوس خو زمانه بیخی خرابه ده به هیچا باور نشته سړی په زینه بام ته پورته کړی خو ژر بیا زینه دده له پښو څخه راوکاږی او هغه کښته راواچوی چه البته پښې ئی غوټی ماتی شی»

«دوران» بیا پر یمنځل شوی وړی په دواړو لاسو کښی واخستلی او لمرته دغوړولو دپاره ئی یو وړلی له هغی خوانه بیرته راوگرځید. بیا ئی خپله وینا پسی اوږده کړه:

«و پوهیدی ورو ره! له دې خبرو او له دې کارو لاس واخله. زه تل په دی ورځو کښې له تا څخه یو راز بل راز خبرې اورم. کله وای چه د کار کونکی د لاس

تنها که تر هرشی زیا ته ده او کله بیا پر بډ ایا نو باندی ښه نه وائي او هغه بې انصافه او د کار کوونکو دښمنان ګڼي. او دوی داسی لیوان ګڼي چه دانسانانو له خولې څخه ګوله ځلوی. یه ورو ره! له دی خبرو به مخ اړوی. ستائي په بډایانو څه، ستائي په سودا ګرو څه؟ هغه هم د خدای پیدا دی. دوی ته هم خدای ور کړی ده نه دې دی اورویدلې چه وائي: «با خدا داده ګان چه سیالی». که دوی د دی نعمتونو ور نه وای نو ولی به خدای ور کول. مونږ خدای د کار د پاره پیدا کړی یو. د دی کار کوو. تر خپل حد خوڅوك تیری نه کوی»

«دوران» د اتولی خبرې په داسې لهجه او په داسې توګه بنګ ته وکړی لکه یو خوږ مشرور ور چه ئی ویوه کشرور ور ته کوی او دا نصحت هم «بنګ» په ظاهره ښه و مانه او هغه «دوران» ته وویل:

«ستا حق پر ما ډیر دی ازه به هیڅ کله ستا له خبرې څخه نه واوړم. خو دومره در ته وایم چه یوازی یه مانه ور که ده او نه و دانه او او سنۍ زمانه دا خبری تر حد تېرې نه ګڼي او یو حقیقت ئی بولي»

په دی حال کښی د ماشینانو عمومی نګران راغی او ماشین کار ته ئی وویل:

«ستا شاګرد بنګ تو میږی؟»

«هو صاحبه!»

ته خبر ئی که نه چه د ..... صاحب په کور کښی صرف درې پیش خدمتان دی نور ګرده ځنی تلی دی هغه ورځ چه دلته پر ماشینانو ګر ځید دغه «بنګ» یو ښه او فعال هلك په نظر ورغلی دی او غواړی چه هغه او دوه کسه نور دده کره ورواستوم چه هلته کار وکړی ځکه ..... صاحب خوشګر دی دلوی نامه خاوند دی اولوی و کوچنی شاؤ ګدا دده په سرا چه کښې تل ناست وی او له خو به خوری او له خو به چښی. هر ماښام ئې لس دولس غوری ډوډی مهمانخانی ته راځی-

٤- دینی متفرق مضامین په یوه کوچنی کتاب کښې.

٥- دیادولو کتاب چه افضل دده لمسی به تاریخ مرصع کښې حواله ورته کړی ده.

٦- فرخ نامه دتوری اوقلم جګړه. ٧- فضل نامه شرقی مسائل په بحر خفیف مثنوی

٨- ریاضی الحقیقت ٩- بازنامه: دبازاو ښکار بحث دی (چه په ۱۳۳۲ کښې پښتو ټولنې

هم په ښه خط طبع کړی ده) ١٠- هدایه له عربی څخه په پښتو ترجمه.

١١- آئینه: له عربی څخه په پښتو دمذهبی ابحاثو ترجمه '

١٢- دستور نامه: دبګړی په باب کښې. ١٣- صحت البدن: حفظ الصحه اوحسب

١٤- زنجیری: راورنی لیکی چه' خوشحال خان یوراز مختصر نویسی ایجاد کړی وه چه فقط دده کورنۍ پری پوهیده او بل چا نشو لوستلای.

دخوشحال خان ادبی کورنۍ:

دخوشحال خان لوره کورنۍ اوزامن هم ادباًاومولفین دی چه بهرام خان' اشرف خان عبدالقادر خان' حیدر خان' سکندر خان گوهر خان ئی شاعران زامن دی. افضل خان ئی مورخ لمسی دی. کاظم خان او علیخان او خوشحال خان او دوست محمد ئی کړوسی او نومیالي ادبا دی چه داټول دپښتو ژبی ویونکی و لیکونکی (شاعران او مولفین) دی او دخوشحال خان دمکتب دفضل و ادب نه ښیرازه شوی دی.

وفات او ورستی وصیت ئی:

خوشحال خان سره ددغی ماجرا نه دډک ژوند ا نه دډیر عمر سری ؤ' زیره ئی سپینه شوی او بدنی قوه ئي هم تریوره حده له لاسه ورکړی وه دده داورستی وخت په ایریدو کښې تیریده' او هماغلته ه(٧٧) کالو په عمر دربیع الاول په ۲۸ ۱۰۰ ه) کښې (١٦٩١ ع) سره مطابق دی په دیره ناکامی وفات او په خپل مسقط الرأس «سرای» کښې ښخ کړی شو.

خوشحال خان دورستیو سلګیو په وخت پیاهم دقومولۍ او خپلواکۍ دښمنان له خیال نه نه ؤ ایستلی او داوصیت ئی پښتنو نه کړیدی :-

«ماهلته ښخ کړیء. چه دمغولو سیوری می برخاو ره ونشی او دمغولو دسپرو دپښو می په هدیره پری نوزی.»

او سنیو پښتنو نه هم ددغه قومی مصلح رهبر' ادیب او شاعر دروحانیت به برکت هغه څه غواړو چه ددغه فقیه روح ئی په لټون یسی خپله ملی او اجتماعی هستی قربان کړه چه دپښتنو نمی خپلواکی او دخپلواکۍ مجاهدی ئی له هماغه هسك پوړنه منبع اخیستی ده.

2 - JUN 25
Copy 1958

دپښتو ټولنی دتیر کال خپرونی

۱ : لوړ خیالو نه اوژور فکرونه

۲ : داور لمبې

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښی

٤ : منطق

٥ : افغان قاموس

٦ : پښتو نثرونه

۷: پریشانه افکار:

۸: نړۍ په دوه زرم کال کښی

۹ : افغان قاموس دوهم ټوک

۱۰: دحنان دیوان

نوی چاپ شوی کتابونه

۱ : پښتنی دودونه

۲ : غوره نثرونه مؤلف ښاغلی الفت

۳- هغه وویل د جبران خلیل اثر

کابل مجله

تاسی کولای شی چه په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د نه هیواد کښی په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په ۱۲ کلداری په نورو د باندنیو هیوادونو کښی په (۳) ډالره لاس ته راولیء

دښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه.

دیوه کال داشتراک دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنی دمحاسبې مدیریت ته او په ولایاتو کښې دهمدی مؤسسی دجاری شمېر په (۷۸۷٥) لمبر افغانستان بانک ته سپارل کېږی

دولتی مطبعه